د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اقتصاد وزارت

# د هلمند ولایت پروفایل

## اقتصادي او ټولنيزې پراختیا ته یوه کتنه



د هلمند ولایت د اقتصاد ریاست
وری - ۱۳۹۸



# د مطالبو لړلیک

**اختصارات یا لنډ ونی ........................................................................................................... ١**

**سریزه ............................................................................................................................. ٢**

**مننلیک............................................................................................................................ ٣**

**د ولایت مقام پیغام .............................................................................................................. ٤**

**لنډیز ............................................................................................................................... ٥**

**میتودولوژي(د جوړولو طریقه):................................................................................................ ٦**

**لیدلوری:........................................................................................................................... ٧**

## لومړی څپرکی........................................................................................................ ٨

**١ـ دهلمند ولایت پژندنه جغرافیایی موقعیت او اداری واحدونه: ................................................... ٨**

**١,٢ـ هلمند دتاریخ په هنداره کی:.............................................................................................. ٨**

د هلمند تاریخي سیمې،دودونه او فرهنګ، رسنۍ او د ځوانانو وضعیت: ......................................... ٨

**دهلمند د ولسونو دودونه ، عرف او رواجونه ................................................................................ ٩**

**د کورنۍ جوړښت:................................................................................................................ ٩**

**د کورنۍ غړي ...................................................................................................................... ٩**

**د هلمندیانو کورنه: ................................................................................................................ ١٠**

د هلمندیانو کالي: ............................................................................................................... ١٠

مېلمه پالنه: ...................................................................................................................... ١١

د مسافرت دودونه:................................................................................................................ ١١

د مړیني دودونه: .................................................................................................................. ١١

د اختر دودونه: .................................................................................................................... ١٢

**دهلمند تاریخی ابدات او لرغونی سیمی: ..................................................................................... ١٢**

د شهزاده حسین مقبره: ......................................................................................................... ١٣

دهلمند دتاریخی او مشهور ځایونو جدول:................................................................................... ١٣

د لښکرگا ښار اړوند د تاریخي آبداتو او ساحاتو د GISنقشه : ........ ۱٦
د هلمند بست تاریخي کلا د GISنقشه........ ۱٦
**په هلمند ولایت کې رسنۍ: ........ ۱۷**
**د هلمند ځوانان: ........ ۱۸**
**۱,۲ـ جغرافیائی موقعیت اواقلیم: ........ ۱۸**
د هلمند ولایت (۱٤) ولسوالۍ د درجو په مقیاس په لاندي ډول دي: ........ ۱۹
**۱,۳ـ نفوس ........ ۲۰**
د اداری واحدونو په اساس دنفوس اندازه : ........ ۲۰
**دوهم څپرکی........ ۲۲**
**د هلمند ولایت د عمومی وضعیت تحلیل: ........ ۲۲**
۱ـ دهلمند دکرنی او کلیو پراختیا سکتور د وضعیت تحلیل:........ ۲۲
*د هلمند زراعتی پیداوار: ........ ۲۲*
*هلمند ولایت کی د سبو د کرنی ساحه او تولیدات:........ ۲۳*
د کرني او مالداری د وضعیت تحلیل: ........ ۲۳
په هلمند ولایت کي کرهڼیز تولیدات:........ ۲٤
*کرنیز محصولات (مقدار په ټنه) ........ ۲٤*
*همسایه ولا یتونوته کرنیز صادراتی محصولات(مقدار په ټنه) ........ ۲٤*
*هلمند کی د حیواناتو او طیورو احصائیه:........ ۲۵*
د لبنیاتو د پروسیس لپاره اسانتیاوي او په دې برخه کي پانګونه: ........ ۲۷
د لبني محصولاتو بازار موندني تحلیل: ........ ۲۷
*دبازار موندنی چاینلونه:........ ۲۸*
**۲ـ زیربنا او طبعی سرچینوسکتور د وضعیت تحلیل: ........ ۳۰**
د ټولګټو ریاست اړوند سړکونه: ........ ۳۰
*د خامه او پاخه سړکونو تفکیک د کیلومتر په اساس ........ ۳۰*
د اوبو د تنظیم ریاست: ........ ۳۲
د کجکی بند:........ ۳۲
۲د بغرا کانال-: ........ ۳۳

۳لشکرگاه شملان کانال-: ........................................................................۳۳
٤د درویشان کانال-: ..........................................................................۳۳
٥کانال شملان جدید-:..........................................................................۳۳
٦کانال نهرسراج-: ............................................................................۳۳

**د لښکرګاه ښاري وضعیت! ...................................................................۳۳**

**مخابرات: ......................................................................................۳٤**

**برېښنا او انرژي! ............................................................................۳٥**

**دهلمند ولایت معادن: .........................................................................۳٦**

په هلمند ولایت کی هغه معدنونه چی لا زیاتی سروی ته اړتیا لری:.........................۳٦
*په هلمند ولایت کی تثبیت شوی معدنونه:* ......................................................۳٦
*دهلمند په دیشو او خانشین ولسوالیو کی درخام ډبری معدنونه:* ..................................۳٦

**۳ـ د عامی روغتیا سکتور د وضعیت تحلیل: ...................................................۳۸**

**روغتیایی خدماتو ته د خکو لاس رسی: .......................................................۳۸**

د هلمند په ولایت کی د ټولو کارکوونکو شمیر ...................................................۳۹
د مور او ماشوم لپاره خدمات او د مړینی کچه:...................................................٤۰

**د ولایت په سطحه کلیدی شاخیصونه: .........................................................٤۰**

د مور او ماشوم د مرگ او میر گچه: ............................................................٤۰
د هلمند ولایت ټول روغتیایی مراکز. ............................................................٤۱
د ولسوالیو په تفکیک د روغتیایی مراکزو تعداد او نوعه: ......................................٤۱
د امبولانس خدمات:.................................................................................٤۲
د هلمند ولایت د مرکز او ولسوالیو په شفاخانو او کلنیکونو کی موجود امبولانسونه.............٤۲
د پرسونل شمیر په ټولو روغتیایي مرکزونو کيEPHS AND BPHS ...........................٤۳
د هلمند ولایت د عامی روغتیا د ریاست تر کار لاندی او تکمیل سوی پروژی ....................٤٤
د هلمند ولایت دعامی روغتیا د ټولو کارکوونکو او د روغتیایی مراکزو د ملکیت جدول په ......٤٤
د سوی تغذی ماشومانو کچه: ......................................................................٤۷

**٤ـ دټولنیز خوندیتوب سکتور د وضعیت تحلیل: ...............................................٤۸**

دکار، بیکاری او استخدام د کچی انډول: .........................................................٤۹

په زده کړو او کاری وړتیاوو باندی سمبال وګړی:........................................................................ ٤٩
د فقر کچه: ........................................................................................................ ٥٠
غذایی خوندیتوب: .................................................................................................. ٥٠
قومونه او قبایل: .................................................................................................... ٥٠
سیاسی حزبونه او مدنی ټولنی: ..................................................................................... ٥١
کوچیان: ............................................................................................................ ٥١
طبعي پیښو او جګړې ځپلو ته لاسرسی: ............................................................................ ٥٢

**٥ـ داقتصادی ودی او خصوصی سکتور دپراختیا سکتور د وضعیت تحلیل :............................ ٥٢**

د عوایدو کچه په افغانیو........................................................................................... ٥٢
په هلمند ولایت کی دولتی او خصوصی بانکونه: .................................................................... ٥٢
د هلمند د بست تصدي تاریخچه: .................................................................................. ٥٣
دکمپنی موخي:........................................................................................................ ٥٣
د بست دتصدي دستګاوې: ........................................................................................... ٥٣
د حلاجی دستګاه:...................................................................................................... ٥٣
تیل ویستونکې دستګاه:.............................................................................................. ٥٤
دغوړو د تصفیې دستګاه:.............................................................................................. ٥٤
جدول :٢ د یو کال ټول لګښتونه : ..................................................................................... ٥٤
جدول :٣ د پکیجینګ او موادو مصارف: ........................................................................... ٥٤
جدول :٥ د لګښتونو او ګټې خلاصه................................................................................. ٥٥
د حجاری اونجاری فابریکه: ........................................................................................ ٥٥
د حجاری اونجاری مختلطی فابریکی: ................................................................................ ٥٦

**٦ـ د پوهني اړوند سکټور د وضعیت تحلیل:............................................................. ٥٧**

٢,١هلمند دولتي د لوړو زده کړومؤسسه: ........................................................................ ٥٨
١.٢جدول :هلمند د لوړو زده کړو مؤسسې په دوو کمپسونو) ساحو (کي روان او ترسره سوي رغنیز او تدارکاتي فعالیتونه................................................................................................. ٥٩
١.٣جدول :د١٣٨٧ هـ ل کال) د هلمند پوهنتون له تأسیس ( څخه بیا تر ١٣٩٧ هـ ل کال پوري د کادري غړو تحصیلي ارتقاء احصائیوي جدول............................................................................... ٦٠
١.٤جدول :هلمند د لوړو زده کړو مؤسسې د ګډو همکاریو د هوکړه لیکوونو ادرسونه .......................... ٦١
٣,١هلمند د لوړو زده کړو مؤسسې تشکیل او د محصلانو احصائیه:.................................................. ٦١
٣,١بست خصوصي پوهنتون:.......................................................................................... ٦١

۱.۷جدول :بست پوهنتون اداري او کادري تشکیل ..................................................٦١
۱.۷جدول :بست پوهنتون د محصلانو شمیر.......................................................................٦٢
۳,۱وادي هلمند خصوصي پوهنتون:.................................................................................٦٢
۱.۷جدول :وادي هلمند د لوړو زده کړو مؤسسې اداري او کادري تشکیل.............................................٦٢
۱.۸جدول :وادي هلمند د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو شمیر ..........................................٦٢
٤,۱اراکوزیا د لوړو زده کړو مؤسسه: .................................................................................٦٢
۱.۷جدول :اراکوزیا د لوړو زده کړو مؤسسې اداري او کادري تشکیل ..........................................٦٢
۱.۸جدول :اراکوزیا د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو شمیر...............................................٦٢

**په هلمند ولایت کې د پوهنې بهیر: ...................................................................٦٣**

دهلمند ومعارف ریاست دتیرو ٤ کلونو انکشافی بودجه(افغانی)............................................٦٥
دمعارف ریاست دتیرودریو کلونو دانکشافی بودجی مصرف ( افغانی )........................................٦٥

## دریم څپرکی...........................................................................٦٦

**دهلمند ولایت د ۱۳۹۷کال پرمختیایی بودجه او مصرف دسکتورونو په تفکیک: ..............................٦٦**

معارف:................................................................................................٦٦
تعداد پروژه های که در این ولایت از طریق وزارت معارف تحت تطبیق میباشد قرار ذیل است.........................٦٦
زراعت:................................................................................................٦٧
به تعداد ۱۰ پروژه های انکشافی در ولایت هلمند در حال تطبیق میباشد که جزئیات آن قرار شرح ذیل است.......٦٧
تحصیلات عالی ........................................................................................٦٨
صحت عامه:..........................................................................................٦٨
تعداد پروژه های انکشافی که از جانب وزارت صحت عامه در این ولایت در حال تطبیق میباشد قرار ذیل است:.....٦٨
پروژه های انکشافی که در سال جاری در این ولایت در حال تطبیق میباشد قرار ذیل اند............................٦٩
فواید عامه: ..........................................................................................٦٩
پروژه های موجود انکشافی که از جانب وزارت فواید عامه در ولایت هلمند تحت تطبیق میباشد قرار ذیل است.......٧٠
پروژه های انکشاقی هلمند:..........................................................................٧٠

## څلورم څپرکی.........................................................................٧٤

**په هلمند ولایت کی د غیر دولتي مؤسساتو فعالیت: ......................................................٧٤**

هغه موسسات چی په هلمند ولایت کی په ۱۳۹۷ کال کی پروژی لری ............................................٧٤

## پنځم څپرکی.........................................................................٧٦

**د غنمو د پراختیا اړوند طرحه! ........................................................ ۷۶**
د بازار یا مارکیټ تحلیل او ارزونه: ........................................................ ۷۶
د سواټ تحلیل(SWOT) ........................................................ ۷۷
قوي نقطې: ........................................................ ۷۷
کمزوری نقطې: ........................................................ ۷۷
تهدیدونه: ........................................................ ۷۷
لاسته راورنی: ........................................................ ۷۷
پایلې یا نتیجه گیري: ........................................................ ۷۷
## شپږم څپرکی ........................................................ ۷۹
**په ملي کچه د احصاییوي شاخصونو انتخابي ټولگه: ........................................................ ۷۹**
د فقر او عامه هوساینې د وضعیت د احصاییوي شاخصونو ټولگه: ........................................................ ۸۰
**د افغانستان دخلکو د ژوندانه د وضعیت سروې : ........................................................ ۱۰۹**
په ملي کچه د ژوند د وضعیت سروې: ........................................................ ۱۰۹
د هلمند ولایت د خلکو ژوند د احصایې او معلوماتو د ملي ادارې د ۲۰۱۷ کال د سروې پر بنسټ: ........................................................ ۱۱۰
## اووم څپرکی ........................................................ ۱۱۲
**دافغانستان د سولې او پراختیا د ملي لومړیتوبونو دبرنامو لنډیز (ANPDF/ NPPS) ........................................................ ۱۱۲**
د افغانستان جغرافیایي-اقتصادي (جیواکانومیک) موقعیت ........................................................ ۱۱۲
د ملي یوالي حکومت ........................................................ ۱۱۳
سیاسي او امنیتي لرلید: ........................................................ ۱۱۳
اقتصادي لرلید: ........................................................ ۱۱٤
۱. دخصوصي سکټور د پراختیا پروگرام ........................................................ ۱۱٤
خصوصي سکټور د ودې له لارې د کاري فرصتونه رامنځته کول ........................................................ ۱۱۵
۲. د ولسي تړون پروگرام ........................................................ ۱۱٦
۳. د اغیزمنې حکومتولۍ پروگرام ........................................................ ۱۱۷
الف) د عامه سکټور سمون ........................................................ ۱۱۷
د یوې اغیزمنې او ځواب ویونکې ملکي ادارې رامنځته کول ........................................................ ۱۱۷
پورته یادې شوې موخې به د لاندې فعالیتونو له لارې تر لاسه شي: ........................................................ ۱۱۷
ب) د اداري فساد د ریښو ایستل: ........................................................ ۱۱۸

د اداري فساد پر وړاندې د حکومت د پلان عمده ټکي:........................................................ ۱۱۸
ج) د سيمه ايزې حکومتولۍ پياوړتيا ........................................................................ ۱۱۸
د) نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه........................................................................ ۱۱۹
۴. دعدلي سکټور د رغولوپروګرام ........................................................................ ۱۱۹
عدالت ته دټولو افغانانو لاسرسی:........................................................................ ۱۱۹
۵. دکرنې د پراختيا هر اړخيز پروګرام ........................................................................ ۱۲۰
د کاري زمينې رامنځته کول، د حاصلاتو زياتول او کروندګرو لپاره د بازارونو پرانستل: ............................ ۱۲۰
په راتلونکو پنځو کلونو کې به موږ: ........................................................................ ۱۲۰
۷. دښاري پراختيا پروګرام ........................................................................ ۱۲۱
خوځنده او د هستوګنې وړ ښارونه ........................................................................ ۱۲۱
۸. د انرژۍ پروګرام ........................................................................ ۱۲۲
د زيربيناوو او انرژۍ د پراختيا لپاره د ملي لومړيتوب پروګرام ........................................................................ ۱۲۲
۹. دکانونو او طبيعي سرچينودپراختيا ملي پروګرام:........................................................................ ۱۲۳
د غوره اقتصاد لپاره د استخراجي سکټور پياوړي کول ........................................................................ ۱۲۴
۱۰. د بشري سرچينود پراختيا پروګرام ........................................................................ ۱۲۴
۱۱. د ښځود اقتصادي پياوړتيا پروګرام ........................................................................ ۱۲۵
افغانستان د جندر يا جنسيت تګلاره :........................................................................ ۱۲۵

**اتم څپرکی........................................................................ ۱۲٦**

**د افغانستان دوامداره پرمختيايی موخی A-SDGS لنډه پيژندنه ........................................................................ ۱۲٦**

د بنستيز انکشاف د موخو لرليد SDGs: ........................................................................ ۱۲٦
په سمبوليک ډول د اولسو موخو........................................................................ ۱۲۷
د افغانستان لپاره بنسټيزې پراختيايي موخې A-SDGs: ........................................................................ ۱۲۷
د افغانستان لپاره د بنسټزو پراختيايي موخو اهميت A-SDGs:هميت اهدافافغانستان ........................................................................ ۱۲۷
د افغانستان لپاره د بنسټيزو پراختيايي موخو د تطبيق مرحلې A-SDGs: ........................................................................ ۱۲۸

**په افغانستان کې د بنسټيزو پراختيايي موخو ټارګېټونه او شاخصونه : ........................................................................ ۱۲۹**

**سرچينې او مأخذونه:........................................................................ ۱٦۰**

دولايت په کچه : ........................................................................ ۱٦۰

# اختصارات یا لنډ ونې

| | |
|---|---|
| MoEc | د اقتصاد وزارت |
| CSO | د مدني ټولنې اداره |
| DDA | د ولسوالۍ پراختیايي شورا |
| GDDC | د طرحې او توحید عمومي ریاست |
| DGO | د ولسوالۍ مقام دفتر |
| ISLA | سیمه ییزه ادارو د پیاوړتیا نوښت |
| IDLG | د سیمه ییزه ارگانونو خپلواکه اداره |
| INGO | نړیواله نادولتی موسسه |
| LoGo | سیمه ییزه حکومتوالي (هغه پروژه چې د ملگرو ملتونو د پرمختیايي پروگرام UNDP- له خوا پلې کیږي) |
| M&E | څارنه او ارزونه |
| MoF | د مالیې وزارت |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت |
| PAP | کلنی ولایتي پلان |
| PBP | د ولایتي بودیجې پالیسي |
| PC | ولایتي شورا |
| PCM | د ولایتي شوراغړي |
| PCO | د ولایتي شورا دفتر |
| PDC | ولایتي پرمختیايي کمېټه |
| PDPG | د ولایتي پرمختیايي پلان جوړوني لارښود |
| PGO | د ولایت مقام دفتر |
| PSP | ولایتي ستراتیژیک پلان |
| DoEc | ولایت د اقتصاد ریاست |
| PIMS | د ولایتي مالوماتو مدیریت سیستم |
| PTC | ولایتي تخنیکي کمېټه |
| PPFMC | د عامه مالي مدیریت ولایتي کمېټه |
| PSTC | د ولایتي سکتور تخنیکي کمېټه |
| PLMD | اړونده ولایتي ریاست |
| USAID | د متحده ایالتونو نړیواله پرمختیايي اداره |
| WB | نړیوال بانک |
| UNDP | د ملگرو ملتونو پرمختیايي پروگرام |

## سريزه



په دې کې هيڅ شک نشته چې افغانستان د انساني، فرهنگي، ټولنيزو او اقتصادي سرچينو ساتنې او پراختيا ته اړتيا لري تر څو وکړای شي د پراختيا بهير د هغه پر بنسټ عيار او همغږی کړي. د دې بهير د اړينو مسئلو له ډلې څخه د سوداگرۍ، ټرانزيټ، صنعت، لاسي صنايعو، داخلي توليداتو او په علمي او تخصصي شتمنۍ باندې سمبال انساني ځواک او شته پرمختيايي سرچينې دي چې د کرنيزو محصولاتو او نورو اقتصادي بل القوه پوټنشيلونو د ودې او پرمختيا لپاره لاره هواروي.
ښکاره خبره ده، په هره اندازه چې ښه پلان جوړونه وشي او ښه لاربښودونه برابر شي نو په هماغه اندازه به د ودې او پراختيا بهير په منظمه او ښه توگه پر مخ ولاړ شي او ټولنه به د هوساينې او پرمختگ په لوري وليږدوي.
په داسې حالاتو کې د مالوماتي ټولگې يا ولايتي پروفايل شتون، د بشري ټولنې په بيلابيلو برخو په تيره بيا د پلان جوړونې او پاليسي جوړونې په برخو کې خورا مهم او اړين گڼل کيږي.
د اقتصاد وزارت وياړي چې د هيواد په کچه د يو ريښتيني بنسټ د ټاکلو په موخه او د ولايتونو د شته حالاتو په تړاو کره مالوماتو ته د لاسرسۍ په برخه کې اسانتيا برابره کړي او د پلان جوړونکو، خيرونکو، دولتي ادارو، مرسته کونکوو مؤسسو، خيريه بنسټونو، زده کوونکو او ليکوالانو لپاره ولايتي پرمختيايي او اقتصادي معلوماتي ټولگه(پروفايل) جوړ کړي. دغه پروفايل د تخنيکي کميټۍ له خوا چې مرکزي او ولايتي مسلکي کارکوونکو په کې گډون درلود او د دولتي ادارو، نادولتي مؤسساتو، ځوانانو، د پوهنتونونو د ښوونکو، غوره کسانو، پوهانو، مدني ټولنې او نورو اړونده مرکزي او ولايتي نهادونو په مرسته او همکارۍ جوړ شوی او د افغانستان د خلکو خدمت ته وړاندې کيږي.
ياد پروفايل تر ډيره بريده پر عامه هوسايني او د اقتصادي او ټولنيز حالت پر څرنگوالي، تاريخي قدامت، د پرمختيايي سکټورونو د حالت پر ارزونې، زيربنا او نورو مهمو پرمختيايي مسايلو باندې تمرکز لري او په ټوليز ډول سره د ولايتونو اقتصادي او ټولنيز ليرليد لکه اقتصادي او ټولنيز ظرفيتونه، د اقتصادي ودې او پرمختيا په وړاندې ننگونې، د اقتصادي هوسايني او اقتصادي حالت د ښه والي په برخه کې شته فرصتونه مطالعه کوي او ارزوي.
ولايتي پرمختيايي او اقتصادي مالوماتي ټولگه(پروفايل) مرسته کوي تر څو بوديجوي نهادونه، د پرمختيايي پلان جوړونې بهير د ولايت د اقتصادي او ټولنيزو اړتياوو او لومړيتوبونو پر بنسټ تنظيم کړي او د نړيوالې ټولنې مالي مرستې د ولايت له اړتياوو او لومړيتوبونو سره همغږې کړي تر څو د ولايت په کچه د عامه هوسايني د سمون لپاره لاره هواره شي.
زه له دې فرصت څخه په گټه اخيستنې د ولايتي پروفايل جوړولو د کميټې له غړو څخه په ځانگړې توگه مننه کوم او د نورو دولتي ادارو او مدني ټولنې نهادونو د کارکوونکو، کارپوهانو او ټولو هغه کارکوونکو هڅو او زيار ته د قدر په سترگه گورم چې په دې کار کې ښکيل اوو.

**ډاکټر مصطفی مستور**
**د اقتصاد وزير**

# مننلیک



خوښ یم چې نن د اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا د پلان جوړونې په برخه کې د يو بل ستر ګام شاهد یم. دغه لاسته راوړنه چې د ولايتي پرمختيايي او اقتصادي مالوماتي ټولګې(پروفایل) جوړول دی ، له شکه پرته د ولایتونو په کچه د يو ټولیز لارښود او مالوماتي سرچينې په توګه، د پانګه والو او تمويلونکو نهادونو د جلبولو له لارې د اقتصادي او ټولنيزې ودې او پرمختيا لپاره لاره هواروي.

دغه پروفایل کولای شي د ولايت د ماضي او راتلونکي په هکله يو ريښتينى انځور وړاندې کړي او په اغيزمن ډول سره، د دقيقې پلان جوړونې او پانګونې لپاره لاره هواره کړي. د ولايتونو پروفایل د ولايت د شته پرمختيايي حالت تر څيړنو او ارزونو وروسته له دولتي ادارو، ولايتي شوراګانو، د مدني ټولنې نهادونو، کارپوهانو، ښځو، د پوهنتونونو د ښوونکو سره په مشوره کې جوړ شوی دی. باید اعتراف وکړو چې د يو تخنيکي او مسلکي ټيم په نه شتون کې، د داسې يو پروفايل جوړول ګران او حتی ناشونی وو. له همدې امله، د ولايتي پروفایل جوړولو په موخه یوه تخنيکي کميټه جوړه شوه چې د طرحې او توحيد لوی رياست د ولايتي چارو تخنيکي کارکوونکو په کې ګډون کړی وو او د سیمه ییزی حکومتوالی ( لوګو) پروژې د سلاکارانو په همکارۍ او د طرحې او توحيد لوی رياست تر مشرۍ لاندې تر سره شو. له همدې امله اړينه ګنم چې د طرحې او توحيد لوی رياست او کميټې له رئيس ډاکټر میرویس بهیج ، د ولایتونو د اقتصادي فعالیتونو د انسجام له آمر ښاغلي عبدالرحمن کمین، د پلان جوړونې چارو سلاکار ښاغلي سميع الله ناظمي او د ښاغلی محمد خان نصرت دهلمند ولایت داقتصاد د رئيس څخه په ځانګړې توګه مننه او قدرداني وکړم چې په خپلو هڅو او زیار سره يې د ياد پروفايل د جوړولو لپاره لاره هواره کړه.

همداډول، د ولايتي مسئولينو او کارکوونکو له هميشنۍ همکارۍ څخه چې په دې برخه کې يې زموږ سره همکاري کړې، مننه کوم.

داسند په اته فصلونوکی جوړشوی دی چی دولایت دمعرفی او پیژندنی په شمول دولایت اقتصادی ظرفیتونه ، دخلکو دژوندانه وضعیت، تولنیز اوکلتوری بنستونه، دولایت پرمختیایی وضعیت، دپانګی اچونی وضعیت، دولایت په کچه پرمختیایی بودجه او لګښت ،دنادولتی موسساتو دفعالیت څرنګوالی ، اقتصادی او تولنیزو مهمه شاخصونه او دافغانستان لپار دبنسټیزو پراختیایی موخو په هکله معلومات را تول شوی دی .

هيله من چې دغه پروفایل به وکړای شي د عامه هوساينې او افغانستان د شريفو خلکو د سوکالۍ په برخه کې ګټوره او اغيزمنه ونډه ولري.

**محمد اسماعیل رحیمي**

**داقتصاد وزارت مسلکي معین**

# د ولایت مقام پیغام



د لوی متعال خدای (ج) په لورینه هلمند یو لوی زراعتي ولایت دی، چي پریمانه اوبه حاصلخیزي ځمکي او ښه هوا لري همدا وجه ده چي هلمند یو وخت د ټوله هیواد په کچه د غلو دگدام په نامه شهرت درلود، ولي په گران هیواد کې د نامناسبو شرایطو د رامنځته کېدو له امله سمسور هلمند هم د هیواد د نورو سېمو په څېر وران سو خلک ئي د نېستی ،فقر او وروسته والي سره مخا مخ شو ل په دي وروستیو کلونو کي چي څه پرمختگ شوی په هیڅ وجه کافي نه دی اولا ډېرو هلو ځلو ته ضرورت شته ځکه چي لامو اوس هم اولادونه د ښووني او روزني له نعمت څخه محروم پاته دي لا مو اوس هم د زراعت او اوبو لگوني چاري په دودېزه تو گه پرمخ بېول کېږي لامو ډېر سرکونه تر اوسه پوري په هم هغه پخواني حالت کې دي صحي خدمات په سمه توگه د خلکو نیاز مندیو ته جواب نه شي ویلای داسي فابریکي نه شته چي د هلمند ولس ته دایمي کار په کښبي پیداشي او نور که ئي وشمېرو ستونزي خورا ډېري دي ، د دي نا خوالو څخه د خلاصون په خاطر په مختلفو برخو کي لا ډېرو هلو ځلو ته ضرورت شته هلمند د افغانستان د نورو سېمو په څېر لرغوني تاریخ ښه ستراتېژیک او سوق الجیشي موقیعت لري او د افغاني دودونو څخه یوه ډکه سیمه ده چي له امله ئي همېشه د هیواد د زیاتي مهمي سېمي په توگه د هیواد د سیاسي ، اقتصادي او اجتماعي برخه لیک په ټاکلو کې مهم رول لوبولی دی.
هلمند یو ویاړلی تاریخي او جغرافیائي سېمه ده، چي له میلاد څخه څو زره کاله پخوانی تاریخ لري د نړې تاریخونو او لرغون پلټونو ثابته کړېده چي چېري سیندونه وي هلته مدنیتونه زېږېدلي دي چي هلمند سیند هم د امو ،نیل ، د جلي ، فرات او اباسین او نورو په څېر یو مدنیت زېږنده سیند دی چي ورسره دا ښېرازه سېمه د همدي ډک سیند له امله په همدي نامه نومول شوي ده،
د اقتصاد ریاست له هڅو مننه کوو چي د هلمند ولایت پرفایل یې د ولایت مقام او ټولو دولتی او غیر دولتی ادارسره په همغږی ترتیب کړامید واره یو چي دا پروفایل په راتلونکی کې ددی ولایت په انکشافی او ټولنیزوبرخو کي دپلان جوړونی لپاره داړینو معلوماتو سرچینه وگرځی.

**د هلمند والي**
**تورنجنرال محمد یاسین**

# لنډیز

اقتصادي وده او د هیواد په کچه انډولیزه پراختیا د حکومت له اساسی لومړیتوبونو ګڼل کیږی. د یوی واقعی ملي اجنډا په توګه حکومت هڅه کړی څو د نړیوالی ټولنې په مالی او تخنیکی مرسته یادی موخی ته رسیدنه یقینی کړی. د تیری یوی نیمی لسیزی هڅو وروسته که څه هم په ډیری برخو د پرمختګونه تر سترګو کیږی اما لا هم ډیر څه ته اړتیا لیدل کیږی.

دا چې متوازن پرمختګ د واضحو تګلارو او مشخصو پالیسیو شتون لپاره اړین بلل کیږی او د تیرو څو کلونو تجاربو ښودلی چې پدی برخه کی د دقیقو احصائیوی ارقامو او کره معلوماتو نشتون په ملی کچه جدی ستونزه وه، په ځانګړي ډول د ولسوالیو او لری پرتو سیمو. اقتصاد وزارت  د وظیفوي مسؤولیت له مخی تل هڅه کړی څو د مختلفو مراجعو ارقام جمعآوری او د پراختیائي ستراتیژیو په جوړولو کی ورڅخه ګټه پورته کړی. بی له شکه دقیقه احصائیه سربیره نه یواځی دا چی د سرچینو د بیځایه مصرف مخنیوی کوی بلکه د اقتصادی او پراختیائي برنامو د موثریت لامل ګرځی او همداراز متوازن پرمختګ یقینی کوي. د ارقامو او معلوماتو اهمیت ته په کتنه، پدی وروستیو کی اقتصاد وزارت ولایتی څانګو ته د ولایتی پروفایلونو جوړولو لارښوونه کړیده. ولایتی پروفایلونه به د سکتور په کچه تحلیلی ارقام او معلومات ولری څو پر مټ یی پالیسی سازی اداری د  معلوماتی بستو (ډیټا بانک) په حیث د هغی څخه د پراختیائي پلانونو او  برنامو په جوړولو کی کار واخلی.

د ننګرهار ولایت پروفایل د یوی مشورتی پروسی له لاری د ټولو ذیدخلو خواو سره په ګډه همغږی د سکتوری ادارو د ارقامو او معلوماتو په اساس جوړ شویدی. هڅه شویده څو د معتبرو دولتی اسنادو او مراجعو څخه دقیق او کره معلومات راجمع، تحلیل او په پروفایل کی ځای پر ځای شویدی.   د هر سکتور تیر حالت ته لنډه کتنه شوی او فعلی وضعیت یی په ډیر ښه ډول تشریح شویدی. کرهنه او د کلیو پراختیا، پوهنه، کلتور، رسنۍ او سپورت سکتور، عامی روغتیا او تغذی، اقتصاد او خصوصي سکتور، د بنسټونو او طبعی زیرمو او ټولنیز خوندیتوب سکتورونه د عمومی جغرافیائي موقعیت او دیموګرافیک معلوماتو سربیره په دغه سند کی په کلی ډول څیړل شویدی. تمه ده د ننګرهار ولایت اړونده اداری به د یاد پروفایل له معلوماتو څخه د اقتصادی او پراختیائی ستراتیژیو، برنامو او پروژو جوړولو په برخه کی ګټه واخلی.

## میتودولوژي(د جوړولو طریقه):

د ولایت پروفایل د یوې منظمې او څېړنیزې طریقې پر بنسټ، د ولایت د شته حالاتو په هکله مالوماتو راټولولو په موخه، د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، ملي لومړیتوبونو پروګرام او افغانستان د دوامداره پرمختیا پروګرام موخو او شاخصونو ته په کتو، ترتیب شوی دی.
د پروفایل جوړولو لپاره، لومړی د اقتصاد وزارت د طرحې او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا، د ولایتونو د اقتصاد ریاستونو کاري ټیمونو ته د پروفایل جوړولو او ارقامو غونډولو لارښود ورکړل شو تر څو ټاکلو شاخصونو ته په کتو، د ولایتونو په کچه ټول شته ارقام راټول شي او د هغوی په رڼا کې د ولایتونو پروفایلونه جوړ شي. تر هغه وروسته، د ولایتونو د اقتصاد ریاستونو کاري ټیمونو، په ولایتونو کې د مېشتو سکټوري ریاستونو په همکارۍ اړین مالومات د ولایت په کچه له بیلابیلو باوري څېړنیزو مراجعو او سرچینو لکه د احصائیې ریاست او نورو دولتي نهادونو، خصوصي سکټور، داخلي او بهرني نادولتي مؤسسو، مدني ټولنې له نهادونو او نورو باوري مراجعو څخه د یوې پوښتنپاڼې له لارې راټول کړل او د ولایتي پروفایل په نامه یې یو واحد سند جوړ کړ.
پر دې سربېره، د ارقامو راټولولو او مالوماتو تر لاسه کولو په برخه کې، له ذیدخله اړخونو او پوهانو سره د ډله ییز کار او مرکو له طریقو څخه هم کار واخیستل شو. همداډول، د دې سند جوړولو په کار کې د باوري ملي او نړیوالو سرچینو او مأخذونو لکه د افغانستان د خلکو د حالت سروې، د ملي لومړیتوبونو پروګرام لنډیز، د ولایتونو د مالي مسئلو او بودیجې په اړه د مالیې وزارت ولایتي پروفایل، په ولایتونو کې اقتصادي طرحې او شته بل القوه ظرفیتونو، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، د اقتصادي او ټولنیزو شاخصونو ټولګې او د افغانستان د دوامداره پرمختیا له موخو څخه هم کار اخیستل شوی دی.
په پای کې باید ووایو چې یاد سند، د طرحې او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا په دقیقه توګه کتل شوی او مطالعه شوی او له مخکې ټاکل شویو شاخصونو او معیارونو پر بنسټ، د څېړکو او مندرجو ارقامو تر پرتله ییزې بیاکتنې وروسته چاپ ته سپارل شوی دی. دغه سند د یو ریښتیني بنسټ په توګه، د شته حالاتو ارزونه په سمه توګه وړاندې کوي او د ولایت د پرمختیایي پلان جوړونې د بهیر لپاره هم اسانتیا برابروي. همداډول، یاد سند پانګه وال او پرمختیایي همکاران هڅوي تر څو د پانګونې او دوامدارې پرمختیا د سمون په برخه کې رغنده او اغیزمنه ونډه واخلي.

## لیدلوری:

دا ولايتي پروفايل داقتصاد محترم وزارت دهدايت په اساس چې لار ښود ، پوښتنليکونه او فارمت یی دهلمند داقتصاد رياست سره شريک شوی ددی رياست لخوا دولایت محترم مقام او ټولو اړوند دولتی او غير دولتی ادارو سره شريک شول او د (۳/۳/۱۳۹۷)نیتی او (۵) گنه دولایتی پرمخیتایی کمیټی په جلسه کی ددی پروفايل د لارښور سره سم دترتيب په اړوند داقتصاد درئیس لخوا دغونډې گډونوالوته لازم معلومات وړاندی شول چې دغونډې گډونوالودهلمند ولایت دیو جامع پروفايل دجوړيدو هرکلی وکړ اودترتيب په برخه کی داقتصاد درياست سره دبشپړی همکاری ژمنه وکړه چې دیادو ادارو په همکاری دهلمند ولایت پروفایل چی دهلمند ولایت معرفی تاریخی قدامت او دعامی روغتیا،زیبنااو طبعی سرچینو،زراعت او مالداری ،معارف ، ټولنیز خوندیتوب او اقتصادی ودی او خصوصی سکتور دسکتورونو اړوند وضعیت تحلیل ، موجوده فرصتونو او ظرفیتنو په اړوند مفصل معلومات وړاندی کوی.

# لومړی څپرکی

## ۱ ـ دهلمند ولایت پژندنه جغرافیایی موقعیت او اداری واحدونه:

هلمند لومړی درجه ولایت دی چې د هیواد لسمه برخه تشکیلوي مساحت ئې (٦١٨٢٩) کیلومتره مربع دی ، د عرض البلد په ۲۹ درجو ۳۰ دقیقو او طول البلد په ٦۰ درجو او ٦١ دقیقو ترمنځ واقع دی د هلمندولایت ختیځ ته د کندهار ولایت شمال ته یې اروزگان ،غور او ډایکنډي ولایتونه پراته دي لویدیځ ته یې د نیمروز او فراه ولایتونه او جنوب ته یې د ډیورنډ د تش په نامه کرښې سره (١٦٢) کیلو متره پوله لري د هلمند شمال ته یوه سلسله غرونه موقعیت لري او جنوبي سیمي یې ریگني دي اقلیم او هوا ئې د ژمي په موسم کې معتدله ده او د اوړي په موسم کې گرمه وي د لښکر گاه ښار ئې مرکز دی چې د کابل په(٦٧١) کیلو متره په فاصله کې موقیعت لري .

د اداري ویش په اساس د مرکز لښکرگاه په گډون (١٤) اداري واحدونه لري چې د) نادعلي ، مارجه، گرمسیر، خانشین ، دیشو ، ناوه ،گرشک ، سنگین ، کجکي ، موسی قلعه ، باغران، نوزاد ، واشیر ( څخه عبارت دي.

په هلمندولایت کې د ښاروالۍ (٨) ناحیې او (٥٦) دولتي ملکي او نظامي اداري) ریاستونه،آمریتونه،عمومي مدیریتونه او خپلواک کمیسیونونه (فعال دي او همدارنگه د احصایې اداري د معلوماتو له مخې پدې ولایت کې (١٧٣٨) کلي شتون لري .

## ۱،۲ـ هلمند دتاریخ په هنداره کی:

### د هلمند تاریخي سیمې،دودونه او فرهنگ، رسنۍ او د ځوانانو وضعیت:

هلمند دلرغوني تمدن ځانگو ده چې دخپل وخت دتاریخ او قبل التاریخ پېر انساني نښې یې ترننه پوري پرځای پاته دي، دنړی دلرغونو تمدونو لومړنی حوزې، دنیل حوزه ، دبین النهرین حوزه ، دسند حوزه ، دهوانگهو حوزه ، د فنیقیانو او عبرانیانو حوزې ، دبین النهرین یا امو سیند حوزه ، هلمند حوزه او داسي نورې دي.

همدا لرغوني انسانان ؤ چې د راتلونکو نسلونو لپاره یې د تمدن پل جوړ کړ ، څکه نو وایې : چیرې چې سیندونه وي هلته تمدونه وي ، تمدونونه دهمدې سیندونو پرغاړو باندي زیږیدلي او دخپل تکامل ، ستونزمن گامونه یې اخیستي دي ، ادا چې په نړی کې دکوم تمدن مخینه زیاته ده ،دې برخه کې پوهان په یوه خوله نه دي ، خودهلمند) لمر سوخته (نښې منډیکک په هرات اوموهنجورادو ، مصر او بین النهرین) میزوپوتامیا (لرغوني تمدونونه ، دلرغوني تمد ن په سر کې راځي ، هلمند د هیواد لسمه برخه جوړوي هلمند د افغانستان د تر ټولو لویو ولایتونو څخه گڼل کېږي، چې تر چک جمهوریت لږ څه کوچنی دی، د افغانستان په جنوب کې پروت دی، چې شمال ختیځ ته یې کندهار، لوېدیځ ته یې نیمروز او شمالته یې ارزگان ولایتونه پراته دي.

په اوستا کې د هلمند یادونه د هیتومند په نوم شویده، دا سیمه تر میلاد ۳۰۰۰ کاله وړاندې تاریخ لری.




## دهلمند د ولسونو دودونه ، عرف او رواجونه:

په يوه ملت کې هغه کسان په نورو باندي ډير تاثير اونفوذ پيداکولای شي چې د قوم عادات ، اخلاق ، دودونه او رواجونه ورته ښه معلوم وي او له دغې لارې څخه دخلکو له روحياتو اونفسياتو سره ښه اشنا شوي وي.
نو په دغه منظور موږ هم تاسو ته د هلمند لرغونې سيمې، هغه مهم دودونه او له پېړيو راپاتي رواجونه اوفولکلور وړاندي کوو:

## د کورنۍ جوړښت :

هلمنديان عموماً کورنۍ په نږدې تربرو کې تشکيلوي ، يعني د اکا زوی بايد لومړی د اکا لور په مرکه وغواړي که هغه نه وي ، نو د عمه لور غواړي او د پلار په سلسله کې د ښځې غوښتل د کورنۍ پوخوالی بولي ، تردې را وروسته که د پلار په خوا کې ښځه ونه غواړي ، نو د مور له خپلوانو څخه ښځه ټاکي اوداسي ښېرته هغه پلرنۍ اړيکې ټينګوي ، چې مور اوپلار بيا سره د اکا لور او زوی وي.
تردې چي راتير شو ډير لږ په تربرو کې ښځې په مرکه غواړي او ډير لږ داسي پېښيږي چې له بل قوم څخه په مرکه ښځه وغواړي.
داسلسله په هغو کورنيو کې پالل کيږي چې اقتصادي وضعيت يې ښه وي اوهلته چې فقر اومسکنت غلبه کړې وي ، نولږ خلک له داسي رسوماتو څخه پيروي کوي ، دکورنۍ په جوړښت کې مور اوپلار لوی غړي دي ، مشر زوی د پلار اوړه اومشره لور د مور لکړه ده.

## د کورنۍ غړي

مور اوپلار دکورنۍ مشران دي ، پلار ددې مسول دی چې د کورنۍ خرڅ برابر کړي ، ستونزې وګالي اود کورنۍ لپاره ډوډۍ پيداکړي ، مور به دکورنۍ انتظام برابروي ، ډوډۍ به پخوي او اولادونه به روزي ، مشر زوی اومشره لور ترپلار اومور را لاندي دکورنۍ مشران ګڼل کيږي ، مشر زوی د پلار سره يوځای کارکوي او کورني مسؤليتونه په ګډه مخته وړي.

کلیوالي یا وطنوال خلک دهلمند عموماً د اقتصادي شرایطو دکمزورۍ په وجه لویې کورنۍ نه شي تشکیلولای ، داسبب دی چې نیکه اوانا یاااکا ، عمه ، خاله اوماما یواځي د هغو کورنیو دغړیو په شمیر کې داخلیږي چې اقتصادي وضعیت یې ښه وي.

## د هلمندیانو کورنه:

وطنوال هلمندیان ډیر مختصر کورونه جوړوي ، اکثره په خټینو او لرګینو کورونو کې ژوند کوي ، چپرۍ دروي او پرسر یې نلان اچوي ، خو ماړه خلک په کلاوو کې اوسیږي ، ددوی کورونه داسي جوړ شوي وي چې په یوه برخه کې یې په خپله ژوند کوي،د میلمونو لپاره ځانګړی ځای لری، په بله برخه کې یې حیوانات دروي اوله بلې برخې څخه د تخویلخانې کار اخلي ، دا کورونه غولی یا ) صحن ( نه لري اوکه ځیني یې ولري هم ، نوهغه پر کوډلو د کېږو دیوالونه راګرځوي خو اوسمهال د کچ ، سمنټ ، ډبرو اوسیخو کورونه په ښار کې اوڅه هم په اطرافو کې رواج دي.

هغه اطاق یاخونه چې دوی ژوند پکې کوي پر سر) چت (یو کولک لري چې دود ترې وځي ، اور د خوني په یو کونج کې بلوي یا یې دخوني په منځ کې نغری جوړ کړی وي ، د خوني پردېوال میږوي ټکوهي پرهغه باندي د ضرورت وړ شیان ځږوي.

ماړه خلک په کلاوو کې اوسیږي اوهر یو تر خپل وسه لویې او پخې کلاوي جوړوي ، کلاوي یې برجونه لري او دېوالونه یې خورا جګ وي ، په منځ کې یې پرلوی غولي شاوخوا خوني راګرځیدلي وي ، د کلاوو خوني په ضربۍ د اومو خښتو څخه جوړیږي، د اوسیدلو په خونه کې د ) تنبې ( په نامه یوځای جوړوي ، چې پرهغه د کور ټولي کمبلې اونورشیان وډې او ځای پرځای کوي یې.

اوس مهال په لښکرګاه ښار کې پاخه تعمیرونه زیات جوړیږي اوخلک پکې هستوګنه کوي ، دا تعمیرات په ښو وسایلو سمبال وي ، د کور اطاقونه دننه په تعمیر کې وي ، ځیني خلکو په کور کې دننه آشپزخانه اوحتی بیت الخلاوي هم جوړې کړیدي ، دمېلمنو د ناستې ځای جلا وي ، ځکه داسي کور په هلمند کې نشته چې هر وخت دې مېلمه ونه لري اوهلمندیان ډیر میلمه پاله خلک دي.

## د هلمندیانو کالي:

د وطنوالو بزګران چې ددې سیمي لوی اکثریت تشکیلوي ، کالي یې عبارت دي له یوه  کمیس ، پرتوګ اولنګوټې څخه ، کوسی هغه د کراستي څخه جوړ شوی لباس دی ، چې په ګرځیدلو کې هم پراوړو کیږي اوهم د شپې د برستني کار ورڅخه اخلي ، ځیني بزګران سدرۍ ) واسکټ (اغوندي اود کرباس پټوان پراوړو کوي ، کمیس یې تر زنګنو لاتیروي ، اوږده اولوی خلاص خولې لستوڼي لري ، پرتوګان یې ډیر چوڼ لري ، پایڅې یې ترزنګنو څلورګوټي رالاندې وي اود پایڅو خولې یې ډیري لویې وي ، اکثرآ د کمیس د لمنې څوکې اود پایڅو خوله سره یوځای وي.

د بزګرانو ښځې اوږد تور کمیس آغوندي اوپرتوګ یې د سره الوان وي ، لور تور پوړنۍ پرسر کوي او پرهغه سربیره یوه توره ریښکۍ څو وله پرسر پیچي چې لکه لنګوټه داسي ایسي ، سپین سري ښځې یې ملا هم په یوبل ټوکر تړي ، دکالو په جوړښت کې مهمه داده چې کمیس او پرتوګ هرڅومره چوڼ ولري ، په هغه اندازه یې په زړه برابرکالي بلل کیږي ، د بزګرانو نر اوښځې ترهغو بله جوړه کالي نه کوي ، ترڅو یې هغه مخکنۍ جوړه پرځان نه وي توی شوې ، دوی کالو ته د پینو په اینبودلو کې د رنګ توپیر ته اهمیت نه ورکوي ، هلک چې واده وکړي اوزوم شي ، دهغه د کمیس غاړه اولستوڼي) چکن کوي (که دکمیس ټوکر تور وي ، نو سپین خامک پرکوي اوکه ټوکر سپین وي ، نو تورخامک پرکوي.

سدرۍ عموما له ښار څخه رانیسي اوږدېري غوټې پرټکوهي ، همدا ډول نجلۍ چې ناوې شي ، هغې ته خامکي کالي ورکوي او دکميس پرځيګر سپيني روپۍ ټکوهي ، دوطنوالو ماره خلک سپين کالي اغوندي ، پټووان پراوږو کوي اوموچني په پښو کوي ، د لنګوټې سره خولۍ پرسرکوي او د سدرۍ په سربيره جيب کې ساعت يا مسواک اچوي ، دخانانو خلکو ښځې هم توركالي اغوندي ، خو پوړنۍ چې پرسر کوي هغه سپين وي ، بزګران خلک په کوسي کې بيدېږي او ښځې اوکوچنيان يې ټوله په يوه بړستن کې پريوزي.

## مېلمه پالنه:

مېلمه پالنه په هلمندي دود کې يوغوره د ستور دی چې د سخاوت يوه ښه بېلګه شمېرل کيږي ، هلمنديان مېلمه ته د هرکلي لپآره ډيري ښکلي او خوږې کليمې لري ، لکه مېلمه ته د هرکلي لپاره وايې ) خدای دې راوله ( اوپه ځواب کې بايد داسي ورته وويل شي ) خدای دې مې په ښه دروليې اويا خدای دې ښه دروليې(

هلمندي ولس مېلمه په ورين تندي مني او دېرعزت يې کوي اوپه ځانګړې توګه د مسافرو ، بې وزلو اومحرومو کسانو سره دهيڅ ډول مرستې څخه دريغ نه کوي.

د هلمنديانو کوټې) حجرې (دېرې اوجوماتونه د مېلمنو ځانګړې مرکزونه دي چې له خپل پلان سره سم يې په ورين تندي مېلمه پالنه کوي اوکه مېلمه د کومي ورپيښې ستونزې له امله ورته پناه راوړې نو د سر په بيه يې ساتنه اوپالنه کوي او د بېرته تلو په وخت کې د خطر په ځايونو کې ورسر ملګرتيا هم کوي چې دې ته بدرګه وايې ترڅو چې دده له سيمې څخه په سلامتی تيرشي.

## د مسافرت دودونه:

هلمندي وګړې د سفر تر پيل مخکي يوډول دود لري چې دسفر اومسافرت پروخت تر قرانکريم ځان باسي ، دا دود په داسي ترتيب کيږي چې قران مجيد په څادر کې ايږدي او څادر ددوو تنو له خوا چې يو دشمال خواته اوبل جنوب خواته ولاړ وي ، قرانکريم چې په څادر کې پروت وي ، مسافر يې په دواړو لاسو نيسي او درې ځلې يې مچوي ، په سترګو پوري يې موږي اولاندي تر تيريږي چې تر تېرشي، له هغې خوا بيا مخ پر راوګرځوي اوبيايې موچ کړي چې دغه عمل درې ځله تکرار شي ، نو له کوره وځي.

مسافر چې له کور څخه ووځي اود خپل کور تر دروازې پښه واړوي ، سمدستي يې کور والا تر دروازې دباندي اوبه ورپاشي ، دا ددې لپاره کوي چې اوبه د پښتنو ميرمنو په نظر رڼاده نو درڼا په خيال اوبه پسې پاشي.

## د مړيني دودونه:

په هلمند کې مړي ته يا په خپل کور يا مسجد کې د ملاصاحب له خوا غسل ورکول کيږي ، د مړي د تجهيز اوتکفين څخه وروسته ، مړي يوځل کورته دننه ور وړي چې نژدې خپلوان يې ووينې ، نوجنازه د ننه کور ته د محرمو خپلوانو پر اوږو ور وړي ، د کور ښځې پر راټولې شي مخ يې په کفن کې ورښکاره کړي دلته له ټولې کورنۍ څخه نارې اوغلبلې ولاړيږي ، سمدم د قيامت ورځ وي ، اوښکې پرې توی کړي ، په دې وخت کې ځينې خلک په هديره کې د قبر په کښلو لګيا وي ، مړي چې هديرې ته د کور ، کلي اونورو دوستانو له خوا راوړل شي ، بس سمدستي د جنازې لمونځ شروع کوي ، د لمانځه وروسته يو مقدار پيسې چې د اسقاط په نامه يادېږي پرخلکو يې ګرځوي ، د پيسو ورکونکی د پيسو اخيستونکي ته وايې چې دا پيسې دې قبولې دي ، نوموړی وايې هو قبولې مې دي ، څو واره پرټولو دا پيسې ګرځوي ، ترڅو چې يې حساب

پوره شي ، له هغه وروسته مړی له چهار پایې څخه پورته اوقبر ته یې کښته کړي ، چې ښخ شو اوخاوري یې پر راواړولې ، نو د ملایانو له خوا دعاوي ورته کیږي اوله هغه څخه وروسته ګډون کوونکي کورونو ته ځي.

په وطنوالو کې تر ټولو غمجن هغه مړی دی چې کورنۍ پرې نړیږي ، په ترتیب سره د ځوانانو مرګ د زړه زخم پرېږدي د زړو او لوېدلو خلکو مرګ د ) خدای دي ښه ورسره وکړي ( په جمله خلاصیږي.

په هر کور کې چې تر ) مړاني ( وروسته کوم څوک مړ شي په هغه پسې خیرات کیږي ،کله چې مړی هدیرې ته واخیستل شي ، د غوښو تر دېګو اورلاندي شي اوخلک چې له هدیرې څخه را وګرځي باید ټوله دهغو غوښو ښوروا وخوري چې د مړه د سر په صدقه پخه شوې وي.

د لته په عمومي صورت دهغه چا فاتحه رواج نه لري چې عمر یې تر (۱۵) کاله لږوي ، د فاتحې مراسم خورا په دروندوالي پرځای کیږي ، ملایان ، کلیوال اوشاوخوا نژدې اولیري دوستان باید دوې یادرې ورځې د هغه چاسره غم شریکي وکړي چې په کور کې یې مړی شوی وي.

په اوومه یا څلویښتمه ورځ که غمځپلې کورنۍ شتمنه وي ، په مړي پسې بیا خیرات کیږي ،ملایان رابلل کیږي ، که ختم پراخ وي نو ټولو بېوزلو اوخوارانو ته هم په ماړه نس ډوډۍ ورکول کیږي.

د مړي کورنۍ ته وروسته تر فاتحو د خپلوانو او اقرباوو له خوا دعوتونه ورکول کیږي ، که د مړي خپلوان ډیر وي نو میلمستیاوي هم ډیرې وي اوکه لږ وي نو میلمستیا وي هم لږوي ، خوداسي هم وي چې ټوله میاشت پدې ډول میلمستیاوي تیروي.

همدارنګه پرکوچیانو لوی غم د کورنۍ د ځوان غړي مرګ دی ، د مرګ غم کوچیانو ته لویه حادثه ده ، مخصوصا چې د کورنۍ د کار غړي یې دلاسه ورکړې وي ، دوی خپل مړي پرهغه ځای ښخوي چیرې چې یې مېنه کړې وي ، د مړي په کفن کې بندوبست نه لري ، دهرډول ټوکرڅخه چې کفن ورکړي هغه درست دی.

## د اختر دودونه:

لکه څرنګه چې ټول پوهیږو مسلمانان په کال کې دوه اخترونه لري چې یو یې د کوچني اختر اوبل یې د لوی اختر په نومونو یادیږي دا دوه اخترونه په کال کې یوځل راځي ډیری وګړي کوچني اختر ته د روژې او لوی اختر ته د قربانۍ اختر هم وایي ، دا دوه اخترونه مذهبي دي ، خوپه افغانستان کې یې دودیزه اوکلتوري ښه خپله کړېده ، که څه هم چې په ټول هیواد کې د وګړو دودونه ترڅه حده یوشان دي خو بیا هم د سیمي په لحاظ زیات توپیرونه پکې لیدل کیږي.

# دهلمند تاریخی ابدات او لرغونی سیمی:

هلمند کې په ټولینز ډول ویلای شوو چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لوري شاوخوا ۳۳ تاریخي ابدات او باستاني ساحات سروې شوي دي ، او فعلآ هم د پاتي تاریخي اثارو او باستاني ساحاتو سروې روانه ده ،چې د هري کلا او سیمې معرفت اوږد بحث ته اړتیا لري ، خو په لنډه ډول ویلای شو چې ډیری دغه تاریخي ابدات د ورانیدو له ګواښ سره مخ دي او یا وران شوي دي او د ډیری باستاني ساحاتو څمکې غصب شویدي.

د هلمند دبست تاریخي اولرغوني کلا چې (۱۰۰۰-۶۵۰) کاله له میلاد څخه مخکې یعني له نن څخه شاوخوا ۳۶۰۰ کاله وړاندي په تقریبا ۱۰۷ جریبه مځکه کې د هلمند او ارغنداب لویو سیندونو د یو ځای کیدو په نقطه کې جوړه شوې ۴۸ دفاعي برجونه شاوخوا ژور خندقونه اوجګ بالاحصارونه اودوې دروازې لري چې د افغانستان او آن دنړی په تاریخ کې ځانګړی ځای او مشهورنوم لري.






## د شهزاده حسین مقبره :

د تر لاسه شوو شواهدو او اسنادو له مخې شهزاده حسین د سلطان محمود غزنوي د لور زوی او د سلطان ابراهیم زوی دی چې شاوخوا ۱۰۲۳ کاله وړاندې په همدې بست کې د جګړو په ترځ کې په شهادت رسیدلی او په یاده سیمه کې خاورو ته سپارل شوی.

په ۱۳۹۱ هـ ل کې د شهزاده حسین مقبره د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د پرمختیایي بودجې په مټ ورغول شوه.

د شهزاده حسین لرغوني زیارت په خپله محدوده کې ډېره ښکلې تکیه) تفریحي ساحه ( لري.




## دهلمند دتاریخي او مشهور ځایونو جدول:

| شماره | ولایت | موقعیت | ساحه نام | کوردینات | ساحه کود |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | هلمند | لشګرګاه | منطقه شماره دوم<br>یخچال ها | N:۳۱,۵۱۳۷۳<br>E:٦٤,۳۵۷۲۹ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۱۲ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | هلمند | لشگرگاه | منطقه شماره سوم یخچال ها | N:۳۱,۵۱۳۰۱ E:٦٤,۳۵۷٦۰ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۱۳ |
| ۳ | هلمند | لشگرگاه | منطقه شماره چهارم یخچال ها | N:۳۱,۵۱۲٤۲ E:٦٤,۳۵۸۵۵ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۱٤ |
| ٤ | هلمند | لشگرگاه | مسجد | N:۳۱,۵٤۹۰٦ E:٦٤,۳۵۱۵۹ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۱۵ |
| ۵ | هلمند | لشگرگاه | حسن خانه | N:۳۱,۵٤۲۱۸ E:٦٤,۳٤۹۷۱ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۱٦ |
| ٦ | هلمند | لشگرگاه | منطقه شماره دوم حسن خانه | N:۳۱,۵۱۰٦۷ E:٦٤,۳۵٤۳۹ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۱۷ |
| ۷ | هلمند | لشگرگاه | منطقه شماره سوم حسن خانه | N:۳۱,۵۱۱۸۰ E:٦٤,۳۵۳۰۳ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۱۸ |
| ۸ | هلمند | لشگرگاه | تخت فتح خان | N:۳۱,۵۰۸۲۵ E:٦٤,۳۵۰۷۷ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۱۹ |
| ۹ | هلمند | لشگرگاه | منطقه شماره چهارم حسن خانه | N:۳۱,۵۰۹۵۹ E:٦٤,۳۵۱۳۰ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۲۰ |
| ۱۰ | هلمند | لشگرگاه | مسجد فتح خان | N:۳۱,۵۱۱٦۸ E:٦٤,۳۵۰۰۲ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۲۱ |
| ۱۱ | هلمند | لشگرگاه | گل تاوه | N:۳۱,۵۱۳۵۱ E:٦٤,۳٤۷۹۰ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۲۲ |
| ۱۲ | هلمند | لشگرگاه | سوری کری قلعه | N:۳۱,۵۱۷۵۷ E:٦٤,۳٤٦۲۲ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۲۳ |
| ۱۳ | هلمند | لشگرگاه | منطقه شماره دوم فتح خان | N:۳۱,۵۱۵۱۲ E:٦٤,۳۵۲۰۹ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۲٤ |
| ۱٤ | هلمند | لشگرگاه | زیارت علامه آبان بستی | N:۳۱,٤۹۸۹۷ E:٦٤,۳٦۱۹٦ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۲۵ |
| ۱۵ | هلمند | لشگرگاه | منطقه شماره سوم فتح خان | N:۳۱,۵۱٤۳۲ E:٦٤,۳۵۲۱۷ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۲٦ |
| ۱٦ | هلمند | لشگرگاه | منطقه شماره پنجم حسن خانه | N:۳۱,۵۱۵۹۹ E:٦٤,۳۵۰۸۵ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۲۷ |
| ۱۷ | هلمند | لشگرگاه | منطقه شماره چهارم فتح خان | N:۳۱,۵۱۵۱۵ E:٦٤,۳٤۹۳۱ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۲۸ |
| ۱۸ | هلمند | لشگرگاه | مربوط به زیارت شهزاده حسین | N:۳۱,۵۱۷۲۱ E:٦٤,۳۵۰٤۲ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۲۹ |
| ۱۹ | هلمند | لشگرگاه | صوف سلیمان | N:۳۱,۵۲۸۳۳ E:٦٤,۳٤٦۸۹ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۳۰ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | هلمند | لشگرگاه | قلعه غلامان | N:۳۱,٥٤۰۹۷<br>E:٦٤,۳٤۹۹۰ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۳۱ |
| ۲۱ | هلمند | لشگرگاه | قلعه سنجد | N:۳۱,٥٦۰٥۱<br>E:٦٤,۳٥۰٤٤ | AIA.۰۲۷,۰۱,۰۳۲ |
| ۲۲ | هلمند | لشگرگاه | لشگرگاه | N: ۳۱′۳۲<br>E:٦٤,۲۲ | AIA.۲۷,۰۱,۰۰۱ |
| ۲۳ | هلمند | لشگرگاه | گوال هدیره | N: ۳۱,٥۷۷٥۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۱<br>E: ٦٤,٤۹۳۳۳۳۰۰۰۰۰۰۰۰۷ | AIA.۲۷,۰۱,۰۰۲ |
| ۲٤ | هلمند | لشگرگاه | بکاری قلعه | N: ۳۱′٦۳۸۸۸۸۹۹۹۹۹۹۹۹۹<br>E: ٦٤′٥٤٥۸۳۳۰۰۰۰۰۰۰۰۲ | AIA.۲۷,۰۱,۰۰۳ |
| ۲٥ | هلمند | لشگرگاه | شینډک | N:۳۱′٦٥۱۳۸۹۰۰۰۰۰۰۰۰۲<br>E: ٦٤′٥۳٥۸۳۲۹۹۹۹۹۹۹۹۲ | AIA.۲۷,۰۱,۰۰٤ |
| ۲٦ | هلمند | لشگرگاه | یکه خاکو | N: ۳۱′۷۱۱۳۸۹<br>E: ٦٤′۳٦۹۱٦۷۰۰۰۰۰۰۰۰٤ | AIA.۲۷,۰۱,۰۰٥ |
| ۲۷ | هلمند | لشگرگاه | سره غندي | N:۳۱′۳۷<br>E:٦٤′۲۰ | AIA.۲۷,۰۱,۰۰٦ |
| ۲۸ | هلمند | لشگرگاه | سلطان بابا زیارت | N: ۳۱′٤۲٥۹٦٤٤۷<br>E: ٦٤′۳۸۷٦٦٥۰۲ | AIA.۲۷,۰۱,۰۰۷ |
| ۲۹ | هلمند | لشگرگاه | تپه بلند | N:۳۱۳٦<br>E: ٦٤′۱۹ | AIA.۲۷,۰۱,۰۰۸ |
| ۳۰ | هلمند | لشگرگاه | مختار | N:۳۱۳٦<br>E:٦٤۲۸ | AIA.۲۷,۰۱,۰۰۹ |
| ۳۱ | هلمند | لشگرگاه | لشکري بازار | N:۳۱′٥٦٥۷۹۱۱۷<br>E:٦٤′۳٦٦٦۷۰۰۰ | AIA.۲۷,۰۱,۰۱۰ |
| ۳۲ | هلمند | لشگرگاه | بالاخانه هلمند | N:۳۱٤۰<br>E: ٦٤٤٤ | AIA.۲۷,۰۱,۰۱۱ |

## د لښکرگا ښار اړوند د تاریخي آبداتو او ساحاتو د GISنقشه :




## نقشه GISد کلا تاریخي بست هلمند د



## په هلمند ولایت کې رسنۍ :

په هلمند ولایت کې یوه دولتي جریده شتون لري چې په ۱۳۳۳ لمریز کال کې د هلمند په ویاړلي نوم تآسیس شوه او دهغه وخت څخه بیا تر اوسه پورې په استثنا د داخلي جنګونو په همدغه نوم په اونۍ کې یوځل او د کاله پنځوس څخه تر ۵۲گڼي چاپیږي چې د اعلاناتو او حق الاشتراک له درکه په ۱۳۹۳ کال ۵۱۲۸۰۰ افغانۍ او په ۱۳۹٦ کال کې یې ۱۲۰۳۰۰افغانۍ او په ۱۳۹۷ مالي کال کې یې ۲۵۰٦٦۰۰ افغانۍ عواید ددولت د وارداتو حساب ته تحویل کړیدي چې د عوایدو زیات او کم لاس ته راوړل د پروژو په اعلاناتو پورې تړاو لري.

دهلمند جریدې عمده ستونزې کم کیفیت او په کم تعداد چاپ ، همدارنګه د بشري او فزیکي منابعو نشتوالی دی، دوې نورې خصوصي مجلې چې د خصوصي پوهنتونو اړوند دي( بست مجله ،ارکوزیا مجله ) هم فعالیت لري.

د هلمند دولتي تلویزیون په ۱۳٦٥ کې او راډیو په ۱۳٦۰ کې په فعالیت پیل کړی دی ، همدارنګه ۳ خصوصي تلویزنونه او ۱۰ خصوصي راډیوګاني پدې ولایت کې فعالیت لري.

د چاپي ،تصویري او صوتي رسنیو لیست:

| شمیره | نوم رسنۍ د | حالت | مسؤل | شمیره تلیفون د | نمبر جواز د | کال جواز د |
|---|---|---|---|---|---|---|
| تلویزنونه | | | | | | |
| ۱ | هلمند تلویزیون | فعال | حیات الله داوري | ۰۷۰۸۲۳۰٤۳٦ | دولتی ملی | |
| ۲ | سباوون تلویزیون | فعال | میرویس پاخون | ۰۷۰۸۳٦٤۹۲۱ | ۲۰٦ | ٦/۱۲/۱۳۹۲ |
| ۳ | باختر تلویزیون | فعال | مولاداد توبه گار | ۰۷۰۷۱۲۰۲۹۷ | ۳٥۱ | ۱۳/۹/۱۳۹۳ |
| ٤ | ژوندون تلویزیون | فعال | سردار محمد همدرد | ۰۷۰۷۱٤۷۰۷۹ | جواز ندارد | |
| راډیو ګاني او مجلې | | | | | | |
| ۱ | هلمند رادیو | فعال | حیات الله داوري | ۰۷۰۸۲۳۰٤۳٦ | دولتي | |
| ۲ | سباوون رادیو | فعال | میرویس پاخون | ۰۷۰۸۳٦٤۹۲۱ | ۱٤ | ۲٤/٥/۱۳۸٤ |
| ۳ | موسکاه رادیو | فعال | بریالی هلمند | ۰۷۹۳۷۰۰۰۷۰ | ۲٥۰ | ٦/۱۲/۱۳۹۲ |
| ٤ | سمون رادیو | فعال | سلیم زمریالی | | | |
| ٥ | بست رادیو | فعال | عبدالسلام زاهد | ۰۷۰۷۸۱۰۳۱۰ | D-۲۸۲۲٤ | ۱۹/۱/۱۳۸۷ |
| ٦ | تعلیم الاسلام رادیو | فعال | فیضي | ۰۷۰۷۷٦٤۹۰۰ | D-۲۸۹٥۲ | ۲٥/۳/۱۳۹۰ |
| ۷ | ږغ رادیو | فعال | محمد ظاهر | ۰۷۰۷۲۱٥۹٤۱ | | |
| ۸ | لشکرګاه ږغ رادیو | فعال | عبدالستار عطایي | ۰۷۰۷۳۲۸۹۱٤ | | |
| ۹ | ژوندون رادیو | فعال | سردار محمد همدرد | ۰۷۰۷۱٤۷۰۷۹ | جواز ندارد | |
| ۱۰ | برشنا رادیو | فعال | سلیم زمریالی | | ۰۲۳٤ | ۹/٥/۱۳۹۷ |
| ۱۱ | ساروان رادیو | فعال | عبدالستار عطایي | | | |
| ۱۲ | بست مجله | فعال | بست پوهنتون | | ٤۱ | ۱٥/۱۲/۱۳۹۱ |
| ۱۳ | ارکوزیا مجله | فعال | ارکوزیا پوهنتون | | | |
| ۱٤ | هلمند جریده | فعال | اطلاعات و فرهنګ | | دولتي | |

# د هلمند ځوانان :

هلمند کې د ټولنې لویه برخه ځوانان تشکیلوي، همدا ځوانان دي چې دټولنې د ملاتیر ګڼل کیږي، د حکومت په اوسنۍ دوره کې د هیوا په کچه ځوانانو ته په لوړو دولتی بستونو باندي د کار کولو زمینه برابره شوې، چې پدې ترڅ کې د هلمند ډیری ځوانان هم د مرکز په کچه او هم دلته په ولایتي کچه په بیلابیلو مهمو بستونو باندي ګمال شویدي، او په ټوله کې ددې ولایت اداره یوه ځوانه،باتجربه او صادقه اداره ګڼل کیږي.

هلمند کې ځوانانو ته د کار موندنې په برخه کې ډیري هڅې شویدي، ډیری ځوانان دا مهال په بیلابیلو ولس ته د خدمت کولو په موخه بوخت دي.

پدې ولایت کې ځوانانو ته په کافي اندازه د لوړو زده کړو زمینه هم برابره شوې ده ، چې د یو دولتي پوهنتون ترڅنګ دا مهال ۳ خصوصي پوهنتونونه شتون لري، او زرګونه ځوانان پکې په زده کړو بوخت دي، ددې ولایت ځوانان له زده کړو سره خاصه علاقه لري چې د همدې علاقې پر بنسټ په هیواد کې دننه او بهر په زده کړو بوخت دي، اوس مهال ددې ولایت په ځوانانو کې د ماسټرۍ او ډوکټورا تر کچې پر زده کړو سمبال ځوانان شتون لري.

| زنان که در سن ۱۵- ۱۹ سال، در حال حاضر متاهل اند (٪) | ۲۸,۲ | ۳۲,۹ | ۳۷,۹ | ۲۸,۲ |
| توازن جنسیتی سواد در جوانان ( ۱۵ - ۲۴ ساله) | ۰,۰۹ | ۰,۱٦ | ۰,۱۳ | ۰,۰٦ |
| چند همسری زنان متاهل ۱۵ تا ۴۹ ساله (٪) | ۱,٦ | ٥,۲ | ٦,٦ | ۱۱,۱ |
| جمعیت با کمبود پروتئین (٪) | _ | _ | _ | _ |
| جمعیت با کمبود کالری و پروتئین (٪) | _ | _ | _ | _ |
| نسبت وابستگی سالمندان | ۰,۹ | ۱,٤ | ۳,۷ | ۷,۸ |
| اشتغال به نسبت جمعیت | _ | ٤۸ | ٤٥,۷ | ٤٥,٤ |
| میزان زیراشتغال (٪) | _ | ۱,۷ | ۸,۸ | ۲۳,٦ |
| میزان بیکاری (٪) | _ | ۰,۷ | ۷,۱ | ۱۳,۸ |
| میزان مشارکت نیروی کار(٪) | _ | ٤۸,٤ | ٤۹,۱ | ٥۲,٦ |
| استخدام نه چندان سود مند | _ | ۲,٤ | ۱٥,۹ | ۳۷,۳ |
| جمعیت مشغول در کشاورزی (٪) | _ | _ | ٦۸ | ٥۱ |
| جمعیت مشغول در تولید(٪) | _ | _ | ٦ | ۲۰,۲ |
| جمعیت مشغول در خدمات (٪) | _ | _ | ۲٦ | ۲۸,۷ |
| میزان فقر (٪) | ۹,۲ | _ | _ | ۸۸,٥ |
| جمعیت که در فضا باز رفع حاجت مینمایید (٪) | ٥ | ۷,۷ | ۲۱,۹ | ۱۱,۳ |
| جمعیت که از مواد سوخت جامد استفاده مینمایند (٪) | ۹٦,٦ | ۹۹,٦ | ۹٥,٥ | ۹۸,۷ |
| خانواده که دارای برق میباشند (٪) | ۱۱,۸ | ۳۳,٤ | ۹۷,٥ | ۹۷,٤ |
| تعداد خانواده | ۷ | ۸,۲ | ۱۰,۱ | ۱۰,۷ |
| افراد که در خانواده های پرجمعیت زنده گی میکنند (٪) | ٤۲,۸ | ۱٥,۲ | ۱۹,۳ | ۳۲,٥ |
| مجموعه تلفن همراه در هر ۱۰۰ نفر جمعیت | ٦ | ۲,۳ | ۱٦,۲ | ۱۷ |
| کاربران اینترنت در هر ۱۰۰ نفر | ۰,۰٤ | ۰ | ۰,۱٦ | ۰,۷ |
| خانواده هایی که دارای زمین های آبیاری هستند (٪) | ۷۹,٥ | ۷٦,۷ | ٦٤ | ٥۹,۲ |
| خانواده هایی که دارای زمین های للمی هستند (٪) | ٥,٦ | ۰,۱ | ۰ | ۰ |
| خانواده هایی که دارای قطعه باغ هستند (٪) | ٤,٤ | ۱۱,۷ | ٤,۷ | ۰,۹ |
| اوسط اندازه زمین های آبی متعلق به خانواده ها(جریب) | ۹,٥ | ۱۰ | ۱٥ | ۱۰,٥ |
| اوسط اندازه زمین های للمی متعلق به خانواده ها (جریب) | ٦,۹ | ۹ | _ | _ |
| اوسط اندازه زمین های آبی متعلق به خانواده ها (جریب) | ۱,۱ | ۱,۲ | ۳,۷ | ۲ |

# اووم څپرکی

## دافغانستان د سولې او پراختیا د ملي لومړیتوبونو دبرنامو لنډیز ( ANPDF/ NPPs)

### د افغانستان جغرافیایي-اقتصادي (جیواکانومیک) موقعیت

افغانستان د یوه بډایه تاریخ او له قومي او ژبني اړخه د ګڼ شمیر وګړو په لرلو سره یوه تاریخي سیمه ده. زیات شمیر افغانان په جلا ټولنو کې په غرنیو سیمو په تپو او درو کې چې زموږ د جغرافیې ډیره برخه جوړوي خواره واره ژوند کوي. د ټوټه ټوټه کېدو پر لور رواني دغې طبیعي ګردلې څخه د خلاصون په موخه د ټرانسپورت اومخابراتي خدمتونو ته لاسرسي او د بازار د همغږۍ د آسانتیاوو راوستلو لپاره د زیربناوو د پراختیا په برخه کې د لویې کچې پانګونې اړتیا لیدل کېږي. د څلورو لسیزو جګړې هیواد وران کړی او په ملي کچې د زیربناوو او د فعالو ادارو لرونکي اغیزمن دولت جوړولو هڅې یې له لویو ستونزو سره مخامخ کړې دي.

د ودې او پرمختګ اوږد مهاله پرمخ وړونکي ـ کرهنه، کان کېندنه او سیمه ایز سوداګری- به هماغسې پاتې شي. ولې زړې لارې چارې باید په پرمختللو لارو باندې بدلې شي. که په اغیزمن ډول ترې ګټه پورته شي، یادې عصري سرچینې به د لوړې کچې اقتصادي وده رامنځته کړي. د نړۍ په یوه ګڼ میشته او خوځنده سیمه کې د څلور لارې پر سر د افغانستان جیوستراتیژیک موقعیت په دې معنی ده چې له ګاونډیو سره پرمختګ په موخه اقتصادي همکاریو د چټکولو لپاره زموږ هیواد د غوره موقعیت لرونکي دی. همدارنګه افغانستان باید په عامه او خصوصي، کورنۍ او بهرنۍ دواړو برخو کې پانګونه چټکه کړي، او د وخت په تیریدو سره د ملي عوایدو پایداره سرچینې باید د پراختیایې مرستو ځای ناستې کړي.

په افغانستان کې د جګړو اوږد تاریخ او د پانګونې نشتون ته په کتو سره د پام وړ اقتصادي ودې او ټولنیز پرمختګ ته رسیدل به پوره وخت ته اړتیا ولري. د پرمختګ د امیدوارونکې کچې سره سره به افغانستان په (۱۰) راتلونکو کلونو کې د سویلي آسیاء سیمه ایز د سړي سر ناخالصو ملي عوایدو تر ټولو ټیټه کچه ولري. نسبي یا د منځنۍ کچې عاید ته د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې د پرمختګ تګلاره، په کلونو او یا هم په یوه لسیزه کې نه بلکې باید په څو لسیزو کې اندازه کړلای شي. ولې بیا هم ډیره اړینه ده ترڅو د یوه سوله ایز او سوکاله هیواد بنسټونه اوس کېښودل شي.

زموږ تګلاره هم باید پر واقعیتونو ولاړه وي. په لنډ وخت کې د ودې لرلید ناڅرګند دی. تر هغه پورې چې افغانستان کې سوله نه وي راغلې، په لویه کچه د نوي خصوصي پانګې اچونې احتمال کم بریښي. عامه پانګونه، چې په ځانګړې توګه د پراختیایي اقتصاد له کبله منځته راځي هغه به هم له ستونزو سره مخ شي. د پرمختګ شریکان به په افغانستان کې د پرمختګ مهم مالي ملاتړ کوونکي پاتې شي، خو د دوی ملاتړ به په راتلونکو ۵ څخه تر ۱۰ کلونو پورې کم شي. د وخت په تیریدو سره باید دوامداره کورنۍ سرچینې د نړیوال ملاتړ ځای ونیسي. په لنډه موده کې د یوې دوامداره بودیجې په لورې تګ او د افغانستان د اوږد مهاله پراختیا بنسټ ایښودل زمونږ لپاره ترټولو مهم لومړیتوب دی.

## د ملي یوالي حکومت

لومړني دوه کاله: په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې د قدرت لیږد د افغانستان پر امنیتي، سیاسي، او اقتصادي اړخونو باندې د پام وړ اغیز وکړ. کله چې د ملي یوالي نوي حکومت واک تر لاسه کړ یواځې له یوه بحران سره نه بلکې له دریو بحرانونو سره مخ شو، تروریستانو او مخالفو وسله والو ډلو د نړیوالو ځواکونو د شمیر په کمیدو سره خپلې حملې زیاتې کړې، اقتصاد د کړکېچ خواته لاړ، او له سیالیو ډکو ټاکنو د ملي رهبرۍ پاملرنه ځانته واړوله.

نوي حکومت دا ومنله چې په اقتصاد کې بنسټیزې ستونزې تر هغه ډیرې ژورې دي چې په لومړیو کې یې اټکل شوی وو. د حکومتي کارکونکو د ګومارنې سیاسي کول د حکومت د اساسي دندو لکه پر بانکونو څارنې، عامه تدارکاتو، دفاعي اوملکي خدمتونو، قضایي او د قانون پلي کوونکې ادارو د داخلي کشالې او پراخه اداري فساد سبب ګرځیدلي. امنیت او پراختیا دواړه په خواشونکې توګه څو ټوټې شوي وو: په حقیقت کې د دې پرځای چې په څرګنده توګه ټاکلې موخې د منسجمو ملي لومړیتوبونو پربنسټ جوړ او پلې شي، د بودجې د باندې او بودجې د ننه پروژو له مجموعي څخه زیات بل څه نه وو پاتې.

حکومت د خپلې دورې لومړی کال په مهمو چارو کې د اساسي پرمختګونو په راوستلو تیر کړ.عامه تدارکات د اصلاحاتو د راوستلو په موخه مرکزي شول. له ملي لومړیتوبونو سره د بودجې بهیر د همغږۍ په موخه د عامه مالي مدیریت په برخه کې د اصلاحاتو طرحه جوړه شوه.

یو له بله سره تړلې څلور ننګونې- جګړه، اداري فساد، جنایت او بیکاري، د حکومت د اصلاحاتو د پروګرام په مخ کې مهمې آزموینې دي. په داسې حال کې چې د امنیتي خنډونو لرې کول سیاسي خبرو اترو او نظامي بریا ته اړتیا لري همدارنګه د عامه باور فضا چې د حکومت له خوا د ښه کېفیت لرونکو مساوي خدمتونو په وړاندې کولو سره رامنځته کېږي په دغه ستونزمنو شرایطو کې د حکومت د ملاتړ سبب ګرځي. خو د کاري زمینې د کچې له لوړولو پرته به افغانان د مخدره توکو ناقانونه تولید، له هیواد نه بهر مهاجرت، او د تاوتریخوالي له جرمي شبکو سره یوځای کېدو په څیر خواشینونکو کړنو لاس پورې کړي.

## سیاسي او امنیتي لرلید:

د سولې تمه لرل د دوه ګوني بلا په څیر ده، چې د پرمختګ پر ټولو لرلیدونو باندې سیوری اچوي. موږ د ملي کمپاین یو پنځه کلن پلان جوړ کړی دی، تر څو زموږ د امنیتي ځواکونو همغږۍ او اغیزمنتیا زیاته کړي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو او پولیسو د ظرفیتونو دوامداره پرمختګ نه یواځې له وسله والو یاغیانو څخه د هیواد په ساتنه کې ډیر اړین دی، بلکې د غصب، انسان تښتونې او ناقانونه نیولو په څیر جرمونو په راکمولو کې چې سوداګریزې پانګونې ته یو ستر خنډ جوړوي هم خورا ارزښت لري. ځمکنیو ماینونو او له جګړو پاتې چاودیدونکو توکو هم د افغانستان ملکي وګړو ته لوی ګواښ رامنځته کړی او د پراختیایي فعالیتونو مخنیوی کوي. هره میاشت په منځنۍ توګه ۱۰۰ افغانان د ځمکنیو ماینونو او له جګړو پاتې چاودیدونکو توکو قرباني ګرځي. دغه طرحه پر دریو برخو تمرکز لري: پخلاینه، امنیت، او ثبات. موږ د لوړې سطحې نظامي رهبرۍ کې بدلون راوستی او د افسرانو روزنه مو مسلکي کړې ده. موږ د مهمو اساسي ملاتړ کوونکو دندو لکه، تدارکاتو، مالي مدیریت، او پلټنو په برخو کې ملکي څارنه رامنځته کړې، چې دغه څارنه به زموږ د ځواکونو له خوا د مناسبو تجهیزاتو، تغذیې، او مدیریت ترلاسه کول ډاډمن کړي. موږ د اغیزمنتیا راوستلو پر وړاندې داخلي ګواښونو د له منځه وړلو کوم چې د اداري فساد له کبله منځته راغلی د سختو ګامونو پورته کول په پام کې نیولي دي.

د امنيتي سکتور لپاره د مرستندويه هيوادونو پر مرستو باندې د اتکا را کمولو په برخه کې زموږ ژمنه، له کورنيو سرچينو څخه په دوامداره توګه په زياتې ګټې پورته کوني، د قانون او نظم د ملاتړ صندوق (LOTFA) او د امنيتي مسئوليتونو د ليږد قوماندانی( CSTC-A ) صندوقونو له سرچينو څخه په ګټه پورته کولو کې د کمښت راوړلو ته اړتيا لري.که د امنيتي سکټور لګښت په کال کې د۵ ملیارده امریکایي ډالرو شاوخوا پر ځای ثابت پاتې شي، د کمښت دغه لاره به ډيره ستونزمنه وي ترڅو خپلې موخې ته ورسيږو. سره له دې، د يادو ژمنو تر لاسه کولو لپاره موږ د کورنيو عوايدو په راټولونه کې د پام وړ ښه والی اوله اداري فساد، مالي صندوقونو څخه د ناوړه ګټې پورته کولو څخه مخنيوی او په امنيتې سکټور کې د لګښتونو د خارجي کلکو ميکانيزمونو له مخې د اغيزمنتيا لوړولو ته ژمن يو.

## اقتصادي لرليد:

د افغانستان ټوليز اقتصادي ليد زموږ پرخان بسياينې تګلارې زمينه برابروي. نړيوال مالي صندوق (IMF) او نورو اقتصادي اټکلونکو ادارو په ټوليزه توګه نړيواله وده ورو اټکل کړې ده، چې د صادراتو او پانګونې د جذب په برخه کې د افغانستان پر ورټيا باندې اغيزه لري. خو د تيرو دريو کلونو په ترڅ کې مخ پرشا وده اوس دريدلې ده، که پياوړي او اغيزمن کورني اصلاحات پلي شي نو ښايي چې د غښتلي مګر منځنۍ ودې خوا ته د بيرته را ګرځيدلو اټکل وکړو. افغانستان په لړه کچه پوروړی دی، او د لويو بهرنيو اسعارو ډيری زيرمی، او افغانيو لپاره د تبادلې د نرخ اغيزمن مديريت لري. چې دا کار د پراختيا له پلوه د لويو اقتصادي کړنلارو بنسټ رامنځته کوی.
خو په مرستو کې چټک کمښت او همدارنګه د عوايدو را ټولولو په برخه کې کمزوری فعاليت يا د عامه مالي چارو ناسم مديريت د بودجې د زيانمنونکو کسرونو او اقتصادي ودې د لمنځه تلو سبب ګرځيدلی.

## ۱. دخصوصي سکټور د پراختيا پروګرام

د خصوصي سکټور لپاره د مساعد چاپيريال رامنځته کول زموږ د تګلارې يوه بله ستنه جوړوي. سوله، د پانګونې لپاره غوره چاپيريال، او د باور وړ زيربيناوې د هغه خصوصي پانګې د جذب ظرفيت لري کوم چې له هيواد څخه خليجي او نورو هيوادونه ته ليږدول کيږي.موږ به بيروکراسي را کمه کړو، د ملکيتونو ځانګيرنې به روښانه کړو، د صادراتو لپاره به آسانتياوې برابرې کړو، د باور وړ بريښنا ترلاسه کولو ته به زمينه برابره کړو، ټرانسپورت ته لاسرسي کې به آسانتياوې راولو، او د متشبيثينو او سوداګرو شخصي خونديتوب به تضمين کړو.
په اوسني وخت کې د نظامي وارداتو څخه بغير افغانستان د خپلو صادراتو لس ځله ډير واردات لري. دغه نا انډولتيا د لوی شمير هغو توليداتو په شمول ده چې که چيرې غوره زيربيناوې او د پانګونې غوره چاپيريال رامنځته شي د هيواد په دننه کې يې د توليد امکان شتون لري. منځني او واړه سوداګريز شرکتونه د افغان اقتصاد د ماشين د جوړولو او د مليونونو کاري زمينو رامنځته کولو ظرفيت لري.پر منځنيو او وړو سوداګريو راځرخيدونکې زموږ پاليسی به د سيمه ايزې غوښتنې ځواب ويلو، په هغو برخو کې چې افغانستان نسبي غوره والی ولري په دغو برخو کې د وارداتو ځای ناستو توکو پراختيا ورکولو، پورونو ته د لاسرسي او د بيروکراسي له کبله د رامنځته شويو خنډونو په لرې کولو سره د وارداتو ملاتړ ته پاملرنه وکړي.
هره هڅه چې موږ د خصوصي سکټور د ودې او دندو رامنځته کولو لپاره کوو، ټول يې پانګې ته اړتيا نه لري. ډيری وخت حکومت له خپل قانوني او د قانون جوړولو ځواک څخه د پانګونې د هڅولو، د خطر او ابهام کمولو، او د پانګونې لپاره سرچينو ته د لارې پرانستلو لپاره ګټه پورته کولای شي. افغانستان د ځينو داسې بيلګو شاهد دی چې د قوانينو بدلون د پانګونې د زياتوالي او په خدمتونو کې ښه والي سبب شوی. د بيلګې په ډول، د مخابراتو په برخه کې د

حیرانتیا وړ پرمختګ چې خصوصي مخابراتي شبکو ته د جواز ورکولو له کبله رامنځته شو. د انرژي د مقرراتو په برخه کې اصلاحات به ډېر ژر د انرژۍ خپلواک تولیدونکي رامنځته کړي چې په ملي شبکو باندې به بریښنا پلوري. د حکومت مقرراتي پروسه ډېرې وخت د منلو وړ اصول لري، لیکن د هغو پلې کول بیلا بیلې مرحلې لري چې د بډو او کم ظرفیتی سبب ګرځي. موږ په سوداګریزو پروسو کې اصلاحاتو ته ژمن یو او په لویو اړونده وزارتونو کې اداري او د خدمتونو وړاندې کولو پروسو د ساده کولو پلان لرو. یاد کره نوښتونه یو واحد مرکز له ځان سره لري چې د خدمتونو خواره واره وړاندې کول به یوه ځانګړي موقعیت ته راولي ترڅو د وړاندیزونو په کچې سره د ثبتولو پروسه ګړندی شي. یادې هڅې به له الکترونیکي اداري اړوند اصلاحاتو سره یوځای شي چې موخه یې د اغیزمنتیا ډېرول دي.
د مقرراتو سمون د بیوزلو له خوا د پانګونې سبب هم ګرځیدلای شي. مونږ اوس مهال د ښاري بیوزلۍ هڅوو، ترڅو پخپلو کورونو او وړو سوداګریو کې د ځمکو د تصدیق لپاره د ملي پروګرام له لارې پانګونه وکړي چې په ټولو لویو او وړو ښارونو کې د اجارې ضمانت وړاندې کېږي. ګرځنده تلیفون له لارې د بانکي خدماتو پرانستل او الکترونیکي تادیاتو ته اجازه ورکول به په راتلونکې کې د بیوزلو او یا لیرې شویو ټولنو لپاره چې نورو مالي سیسټمونو ته لاسرسی نلري د راکړې ورکړې او ګټې لګښتونه را کم کړي.

## خصوصي سکټور د ودې له لارې د کاري فرصتونه رامنځته کول

د خصوصي سکټور د ودې پراخولو لپاره زموږ موخې په لاندې ډول دي:

- د اغیزمنو او د سیالۍ ډک بازارونو رامنځته کول.
- د منځنیو او وړو سوداګریو، په ځانګړې ډول د صادراتو اړوند افغاني شرکتونو غښتلې کول.
- د کورني او بهرني پانګونې هڅول
- د خصوصي سکټور لپاره د یو توانمنونکي چاپیریال رامنځته کولو لپاره زموږ وسایل په لاندې ډول دي :
- د (ISO) له معیارونو سره دخدمتونو او تولیداتو برابرولو په برخه کې له افغان شرکتونو سره مرسته کول،
- د سوداګرۍ د ملاتړ خدمتونه د لاسرسي وړ او اړوند ګرځول.
- د ګاونډیو هیوادونو سره د ګمرکونو ترمنځ د تړونونو پراخول.
- په افغان سفارتونو کې د سوداګریزو اتشو ډېرول.
- د دوه اړخیزو او څو اړخیزو تړونونو پراخول.
- د (TIR) کنوانسیون مطابق بل هیواد ته د بار وړونکو موټرو ننوتلو تر اجازې لاندې د توکو پر نړیوال لیږد باندې د ګمرکونو کنوانسیون پلي کول او همدارنګه د ترانسپورت او لوجستیکي سکټور پیاوړي کول.
- کورنیو تدارکاتو او د وارداتو قانونی ځای نیوونکو توکو ته پراختیا ورکول.
- د خصوصي سکټور د سروې په وسایلو کې د ښه والي راوستل او معیاري کول.
- د صنعتي پارکونو او ځانګړو اقتصادي زونونو ملاتړ او جوړول.
- د غیر ضروري شرایطو د لرې کولو په موخه د جواز پر شرایطو بیاکتنه.
- پانګوالو ته د مالیاتي هڅونو او د پانګونو او شتمنیو حقوقي خوندیتوب برابرول.
- د یوې داسې واحدې اداري رامنځته کول چې د سوداګرۍ منسجم الکترونیکي اداري خدمتونه په کابل او اوه نورو مرکزونو کې وړاندې کړي لکه (ثبت، جواز ورکول، د ګمرکونو مالیات).

## ۲. د ولسي تړون پروګرام

افغانستان روغتیا او تعلیم ته د لاسرسی پراختیا برخې ته پاملرنه کړی ده. یاده پاملرنه به، تر۲۰۲۰ زیږدیز کال پورې د لومړنیو روغتیایي او تعلیمي خدمتونو لپاره مالي تمویل په څیر چې وار له مخکې ټاکل شوې، دوام ومومي.موږ د خپلې اوسنی تګلارې لپاره د دریو بدلونونو وړاندوینه کړی ده. لومړی، د روغتیا او تعلیم برخه چې نه یواځې د پوښښ پراخولو ته پاملرنه وکړي باید چې د کېفیت لوړولو ته یې هم پاملرنه وکړي. دوهم، اوسني مالي بیلګې، په ځانګړې ډول د روغتیایي خدمتونو لپاره ثابتې نه دي دواړه وزارتونه د اصلاحاتو پلانونه ترتیبوي ترڅو د روغتیایي خدمتونو په لمړنی بکسه کې د غوره والي او په لړې پرتو سیمو کې د سواد د کچې لوړولو په شمول یاد خنډونه له منځه یوسي. دریم، د تعلیم د نصاب او د افغانستان د کار بازار د غوښتنو تر منځ تقاطع ادا په ګوته کوي چې نیږدې دوه پر دریمه برخه د پوهنتون نوي فارغین بیکاره دي.

د ولسي تړون د ملي لومړیتوب پروګرام به د تعلیم، روغتیا، لمړنی کلیوالي زیربیناوو، او کرهنیزو خدمتونو په برخه کې د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره میکانیزمونو ته پراختیا ورکړي. د ټولنو د پراختیا شوراء څخه په تیټه کچه د حکومتولی او پراختیایي فعالیتونو لپاره د ننوتو د یوې نقطې په ډول ګټه پورته کولو سره د منشور موخه د بیوزلی را کمول او د ناامنی او تاوتریخوالي له منځه وړل دي. د وګړو منشور زموږ د پراختیایي لرلید کیلي ده. د کلیوالو ټولنو، ولسوالیو، ولایتونو، او مرکزي سطحې یو له بله سره نښلول د حکومت له بشپړو هڅو څخه دي، ترڅو ټولییز پرمختګ ته پراختیا ورکړي او د تیر وخت په څیر د پراختیا څو ټوټې شویو تګلارو څخه د مخنیوي په برخه کې مرسته وکړي. یاد تړون به ټولنې د پراختیا د پروسې په مرکز کې راولي، او دوی ته به د خدمتونو د وړاندې کولو څخه د څارنې او د پراختیایي لومړیتوبونو د ټاکلو لپاره وسایل او میکانیزمونه په اختیار کې ورکړي.ټولنې به د ګټه ترلاسه کوونکو په پیژندنه، د غوښتنې په رامنځته کېدو، او همدارنګه د پرمخ وړلو او ساتنه کې مهم رول ولوبوي. د وګړو منشور به د ټولنو د پراختیایي مرکزونو (CDCs) ظرفیت جوړونه وکړي او له پورته نه ښکته د حساب ورکونې اړین ګامونه پورته کړي ترڅو یقیني شي چې زیانمن کېدونکې ډلې لکه ښځې، راستنیدونکي کډوال، په هیواد کې دننه بې ځایه شوي خلک، کونډې، او معلولین د پراختیا په پروسه کې شامل شوي دي.

ولسی تړون به د خدمتونو لږ تر لږ معیارونه وړاندې کړي

تر ۲۰۲٦ زیږدیز کال پورې به دولت د ټولو خلکو لپاره د خدمتونو د اساسي خدماتو وړاندې کول تضمین کړي. په راتلونکو څلورو کلونو کې به یاد پروګرام ۱۲،۰۰۰ ټولنو له لارې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې لاندې خدمتونه وړاندې کړي:

- په ملي سطحه پاکو اوبو ته لاسرسی، د ۲۰،۰۰۰ شاوخوا د اوبو د ترلاسه کولو ځایونو رامنځته کول
- په دولتی ښوونځیو کې د غوره کېفیت تعلیم، د ښوونکو له حاضرۍ او د زده کوونکو لپاره د زده کړې ساعتونه څخه ډاډمن کېدل
- د روغتیایي خدمتونو لومړنی بسته، په ټولو کلنیکونو کې ټاکل شویو خدمتونو، د عملیاتو حداقل ساعتونو، او د کار ګمارنې لمړنی غوښتنو په شمول

د ټولنې تر مشرۍ لاندې د لومړیتوبونو د ټاکلو او د توپیر د څیړلو پر بنسټ، ټولنې به له لاندې برخو څخه لږ تر لږه یوه یې ولرې:

- په لرې پرتو سيمو کې له نويو کېدونکو سرچينو څخه د لومړنۍ کچې برېښنا توليد،چې د انرژۍ د سيستم له لاري د رسيدو وړ نه وي.
- مارکېټ ته د کليو د لاسرسۍ د زياتوالي په موخه د داسې سړکونو جوړول چې سر و کال پرانستې وي.
- په ټيټه کچه د اوبو لګولو او د فاضله اوبو د وتلو زيربيناوې.

## ۳. د اغيزمنې حکومتولۍ پروګرام

په افغانستان کې امنيت، بې ثباتي او لږ پرمختګ له يو بل سره نه بيليدونکې تړاو لري. د دولت مشروعيت او اغيزمنتيا رامنځته کول پخپله يوه مهمه موخه ده. يو مشروع او ثبات لرونکې دولت ته دغه پاملرنه په لومړي ګام کې د سولې په خبرو کښې پرمختګ، د سياسي اجماع رامنځته کول، او دامنيت ټينګښت دي. د مالکېت د حقوقو روښتيا، په ځانګړي ډول د ځمکو لپاره چې د نفوسو د لوی شمير لپاره يوه مهمه فزيکي شتمني ده، يوه مهمه موضوع ګڼل کېږي.د افغانستان د ځمکو خپلواکه اداره (اراضي) د ملي اداري د قبالي پروګرام په رامنځته کولو سره د يادي ستونزې د له منځه وړلو لپاره کار کوي.د لومړنيو خدمتونو لکه روغتيا او تعليم په برخو کې، په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو لپاره د لاس ته راوړنو خوندي ساتلو ته اړتيا لري ترڅو موږ د خلکو خونديتوب، پخپل ټاکل شوي استازي باندې باور لرل او د خپلو کورنيو لپاره د کافي عوايدو ترلاسه کول، تضمين کړو.

### الف) د عامه سکټور سمون

د عامه سکټور بنسټيز اصلاحات به د اوسنۍ اداري د کاري دورې تر پايه پورې دوام ومومي. افغانستان د هغو پاليسيو او مقرراتولو بې کچې زياتوالي څخه اغيزمن دی کوم چې په سمه توګه نه دي پلي شوي. د پلي کولو په برخه کې د اغيزمنتيا راوستلو لپاره موږ بايد د مديريت په سيستمونو کښې اصلاحات، څارنې او مکافات راولو. په راتلونکو دريو کلونو کې به په لوړو عوايدو او لګښتونو لرونکو وزارتونو کې د فعاليتونو د مديريت اصلاحات راوستل شي. د ملکي خدمتونو او عامه اداري اصلاحات  د لوړ رتبه مديرانو د وړتيا د لوړولو لپاره پلي شوي دي.

### د يوې اغيزمنې او ځواب ويونکې ملکي اداري  رامنځته کول

افغانستان بايد يوه داسې د ملکي خدمتونو اداره رامنځته کړي چې د هيواد د ملي پرمختيايي غوښتنو ځواب ويونکې وي او د افغان نارينه او ښځينه  مساوي ګډون بهير ته وده ورکړي. خو بيا هم يادې موخې ته د رسيدو لپاره موږ بايد يو زوړ سياسي ميراث له منځه يوسو، چې د اداري فساد او غير مشروع نفوذ له خوا خپور شوی، کوم چې د ملکي خدمتونو په بستونو کښې د لوی شمير غير مسلکي کار کوونکو ګمارلو سبب شوی. اصلاحات بايد د هغه ناسالمو کړنو ريښې له منځه يوسي چې ډيرې ژورې شوي او غښتلي سياسي خيرې يې قانع کړي دي. د ملکي خدمتونو مسلکي اداري رامنځته کول چې له لګښت څخه يې د ارزښت کچه ډيره وي د ټولو افغانانو په ګټه ده.

### پورته يادې شوې موخې به د لاندې فعاليتونو له لارې تر لاسه شي:

- د نويو قوانينو په تصويب او د اوسنيو قوانينو په بيا کتنې سره چې په هغه کې د ملکي خدمتونو قانون هم شامل دی،د ملکي خدمتونو په برخه کې د اصلاحاتو راوستل.
    - د مسلکېتوب رامنځته کول، ساتل او پياوړي کول.
    - د فعاليتونو پر بنسټ د ولاړ مديريت پراخول.

- د ولسي ترون له لارې د خدمتونو د وړاندې کولو اغیزمنتوب زیاتول.
- د حساب ورکونې او روښتیا پیاوړې کول، او
- د داسې لارښود جوړول چې غوره خدمات وستایي او د فعالیت کموالی تنظیم کړي.

## ب) د اداري فساد د ریښو ایستل:

موږ په بشپړ هوډ سره د اداري فساد له منځه وړلو ته ژمن یو. د اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د ولسمشر عملي پلان، ستړي محکمې او لویې څارنوالۍ کې د اداري فساد مخنیوی له قوي پروګرام او مناسبې رهبرۍ سره یو ځای شوی چې د معافیت کلتور به له منځه یوسي او مفسدین به عدالت ته راکاږي. په داسې حال کې چې د امنیتي ستونزو له منځه وړل به سیاسي خبرو اترو او پوځې بریالیتوب ته اړتیا ولري، زموږ د خلکو باور لوړول په دې توګه چې موږ کولای شو د ښه کېفیت لرونکي خدمتونو په بې پرې ډول وړاندې کړو، د عامه ملاتړ پر کچه اغیزه وکړي.

## د اداري فساد پر وړاندې د حکومت د پلان عمده ټکي:

په افغانستان کې له بنسټیز اداري فساد سره د مبارزې لپاره د امنیت، اداري،اقتصاد، او حقوقي ادارو په برخو کې سترو اصلاحاتو ته اړتیا شته. هغه عمده اصلاحات چې مخکې له مخکې پر لاره اچول شوي دي په لاندې ډول دي:

- د عامه تدارکاتو بیا جوړونه، چې د ټولو لګښتونو ۲۰ سلنه جوړوي.
- د قانون د حاکمیت او اداري فساد پر ضد د مبارزې په برخو کې د عالي شورا رامنځته کول.
- د وزارت په سطحه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د پلانونو ترتیبول چې پیل یې د مالیې، معدنونو او پطرولیم، سوداګرۍ او صنایعو، مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ او ټرانسپورټ له وزارتونو څخه کېږي.
- د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې عدلي مرکزڅخه ځانګړي ملاتړ تر څو د لوړې کچې اداري فساد وڅېړي او تر قانوني څار لاندې یې ونیسي.
- د قاضیانو او څارنوالانو د شامیلدو او بیا ځلې ازموینو په برخو کې د شرطونو اړین کول.
- د ۳۴ ولایتونو د قاضیانو تعویض او تبدیل.
- د کمپیوټری تادیاتو او الکترونیکي پلورنې څخه په ګټه پورته کولو کې د زیاتوالی راوستل.

## ج) د سیمه ایزې حکومتولۍ پیاوړتیا

کله چې دولت کمزوری وي، خلک د خوندیتوب له نور ډولونو لکه غیرقانوني ملاتړ، وسله والې ملیشې او وسله والو شبکو څخه ګټه پورته کوي. موږ باید په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې فیزیکي او اداري شتون رامنځته کړو ترڅو عامه خوندیتوب او د امنیتي، قانوني او ټولنیزو خدمتونو وړاندې کوونکو ادارو له نظارت څخه ډاډمن شو. د سیمه ایز حکومتونو له لارې د لګښتونو د کچې له زیاتوالي او تر ۲۰۱۹ زیږدیز کال پورې د ښاروالانو د ټاکنو په شمول د ټاکنو د پروسې له اصلاح سره یوځای دپانګونې پروګرام چې په ولسوالیو او ولایاتو کې د حکومت دایمي شتون ته پراختیا ورکړي چې دا به د ځایي حکومتولۍ د پیاوړتیا لامل وګرځي.

د ځایي حکومتولۍ د سیستم د پیاوړیتوب او ملاتړ لپاره زموږ هڅې په لاندې ډول دي:

- د حکومت د ټولو کچو ترمنځ له ځايي ټولنې نیولې تر ملي کچې پورې د اړیکو ټینګول.
- د بودجې ترتیبولو، پلان جوړولو او پلي کولو په برخو کې د ملاتړ او همغږۍ زیاتول.
- د عوایدو ټولولو او خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې د ښاروالیو د وړتیا لوړول.
- د ولسوالیو په سطحه د حکومت د شتون زیاتول، او
- د والیانو او ولسوالانو د ظرفیت لوړول.

## د) نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه

افغانستان کښې د نشه يي توکو شته صنعت، د امنیت او پرمختګ په لاره پروت یو ستر خنډ دی. د نشه يي توکو ناقانونه سوداګري د بلواګرۍ د زیاتیدو سبب ګرځي او د دولت مشروعیت ته زیان رسوي. د نشه يي توکو له مصرف کوونکو هیوادونو څخه دوامداره غوښتنه او د ترانزیت په لار کې د پرتو هیوادونه له خوا د نشه يي توکو د لیږد د مخې نیولو اړوند ناکافي ګامونه، زموږ د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د تګلارې اغیزمنتیا محدوده کړې ده. د ۲۰۱۵ زیږدیز کال را په دې خوا موږ د نشه يي توکو ملي کاري پلان پلي کول پیل کړي چې د قانون پلي کول، تعلیم او عامه روغتیا یوه مسیر ته برابروي. د دې خبرې په پوهیدلو چې بریالي اصلاحات اوږد مهاله ژمنو ته اړتیا لري، په راتلونکو پنځو کلونو کې به موږ په داسې حال کې کروند ګرو ته د بدیل معیشت برابرول روان وساتو چې د پیسو مینځلو او نشه يي توکو د قاچاق پر وړاندې به قانون په جدي توګه پلې شي.

## ۴. دعدلي سکتور د رغولوپروګرام

زموږ خلک باید دا احساس وکړي چې دولت د قانون په بې طرفه پلي کولو سره عدالت رامنځته کوي. افغانستان باید د قانون د ونډې د یقیني کولو لپاره باید خپل سیستمونه له سره جوړ کړي، چې د هغه د نشتون له کبله به قراردادونه او د ملکیت حقوق خوندي نه وي او نه به شخړې د قضا او قانوني لارو حل شي. ستره محکمه او لویه څارنوالی دواړه د خپلو خدمتونو د مسلکي کولو او ټولو وګړو ته د حقوقي لاسرسي لپاره په لویه کچه داصلاحاتو پلان جوړوي.

### عدالت ته دټولو افغانانو لاسرسی:

افغانستان به یو عادلانه او منصفانه قضایی او د قانون د تنفیذ سیستم جوړکړي، چې د قواعدو او مقرراتو پر بنسټ عدالت وساتي او د نړیوالو معیارونو سره به سمون ولري. د قانون د پلې کولو سیستم به دا باوري کړي چې د قانون پر وړاندې بې له کوم تبعیضه ټول افغانان مساوي دي.

یاده موضوع به د لاندې ټکو څخه څرګنده شي:

- د هر افغان نر او ښځې لپاره عدالت ته د لاسرسي د حق تضمینول.
- د یوه روڼ او بې پرې حقوقي سیستم رامنځته کول چې د اساسي قانون او بشري حقونو نړیوالو کنوانسیونونو دقیق ډول په نظر کې نیولو سره رامنځته شوی وي.
- په هره کچه د قانون د پلې کوونکو پرسونل مسلکي ظرفیت لوړول.
- د عدلي او قانون پلي کوونکو ادارو کې د ښځو د شمیر زیاتول.
- د عدلي او قانون پلي کوونکو ادارو ترمنځ د همغږۍ زیاتول.

- له سترې محکمې څخه د اراضي خپلواکې اداري ته د ځمکو د قضایاو د څیړلو د صلاحیت تقویض
- د قضایي ادارو په بیا جوړښت او د قضیو بریښنایي مدیریت سیستم په فعالولو سره د ځواب ورکونې او اغیزمنتیا لوړول.
- د بشري حقونو د ساتنې او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي په برخو کې د جدي ګامونو پورته کول.

## ۵. دکرنې د پراختیا هر اړخیز پروګرام

د افغانستان ناخالص ملي تولید د کرهنیز سکټور له فعالیتونو سره سم حرکت کوي، کوم چې د ۴۰ سلنې نفوس لپاره د کار زمینه رامنځته کوي او زموږ د اوسنیو صادراتو د پام وړ برخه جوړوي. په طبیعي ډول یو بې ثباته سکټور، لکه د افغان کرهنې د ودې مخه، د اوبو د سرچینو د پراختیا په برخه کې د لږې پانګونې، د ټیټ کېفیت لرونکو توکو لکه تخمونه او سرې، د طبیعي سرچینیو له منځه تلو، او د کورنې او صادراتي بازارموندنې لپاره کمزوري سیستم له کبله نیول شوې ده. اقلیم د بدلون له کبله اوس دری اونی مخکې واوره اوبه کېږي، چې د پسرلې په لومړیو کې د ځمکې پر سر به د ډیرو اوبو د تولیدو سبب شي، او د سیلابونو د راوتلو او ځمکو د ښویدو خطر زیاتوي،او همدارنګه د وچ دوبې په میاشتو کې د کافي اوبو د نشتون ستونزه رامنځته کوي. اوسنی اورښت د ډیر باران اوریدلو په څیر ښکاري، نه د واوري، کوم چې د ډیرو اوبو دساتلو آسانتیاوو او د سیلابونو د مخنیوي پر وړاندې د اړینو ګامونو پورته کولو اړتیا پیدا کوي.

د کرهنیزو تولیداتو د کچې لوړول به د اوبو لګولو په سرچینو، د اوبو په مدیریت، د نیالګې کېنولو پرمختللي موادو، او غوره لارو چارو په برخه کې د پام وړ څو سکټوریزه پانګونو ته اړتیا لري. د ارزښت زیاتولو کړۍ ته باید پراختیا ورکړل شي ترڅو پانګوالو ته د پانګونې لپاره ډیره انګیزه ورکړي. د غنمو او غلو زیات تولید، او کمو شویو رمو ته پراختیا ورکول به د هیواد لپاره د خوراکي توکو خوندیتوب تضمین کړي. پرمختللې ښارې او کلیوالي اړیکې چې کرهنیزو محصولاتو ته د پیرودلو، پروسس او ساتلو توکي تیاروي، د ښاري پرمختګ او د کلیو د روښانه پرمختګ سبب شي.

عامه پانګونه به په لومړیو کې کرهنیزو سکټورونو ته پاملرنه وکړي کوم چې د اقتصادي ودې لوړ قابلیت لري. اصلاح شوي تخمونه، غوره کرهنیزه ټکنالوژۍ، او ډیری سرخونې او د سړیدو آسانتیاوې به له کوچنیو سهم لرونکو سره د خوراکي توکو د خوندیتوب په لوړولو او د کورنې او صادارتي بازارونو لپاره د تولید له وروستی کچې څخه مثبتې کچې ته د خوځښت په برخه کې مرسته وکړي. یو اوږد مهاله ظرفیت شتون لري ترڅو افغانستان له واردونکي او کرهنیز هیواد څخه په کرهنیز صنعتي صادراتي هیواد بدل کړي. یادې موخې ته رسیدل د کرهنیز صنعت پرمختګ، د کېفیت د کنټرول ښه والي، د سړیدونکو آسانتیاوو پراختیا، او د غوره بسته بندی معرفي کولو ته اړتیا لري، تر څو پورې چې د ضایع کېدو او خرابیدو څخه مخنیوی وشي.

### د کاري زمینې رامنځته کول، د حاصلاتو زیاتول او کروندګرو لپاره د بازارونو پرانستل: په راتلونکو پنځو کلونو کې به موږ:

- تر اوبو لاندې ځمکه له ۲،۲څخه ۲،۷ ملیون هکتارو ته لوړه کړو
- د غنمو تولید له ۴,۵ څخه ۵,۹ ملیون میټریک ټنو ته لوړ کړو .

موږ به یادو موخو ته په لاندې ډول ورسیږو:

- د اوبو د اغیزمن مدیریت  په برخه کې د پانګونې له لارې به د ۱۰۰۰ څخه ډیرو اوبولګولو کانالونه جوړولو، د اوبولګولو نوو شبکو ته پراختیا ورکولو، او د اوبو واړه زیرمتونونو جوړول.
- د غنمو د ملي پروګرام پلي کول، ترڅو د حاصلاتو کچه ٪۲۶ لوړه شي، د ۱۱۰،۰۰۰ هکتاره تر کښت لاندې ځمکې زیاتول، له حاصل اخستلو څخه وروسته په منځنی کچه د زیانونو راکمول، او د غنمو د زڼو د معیاري بازار رامنځته کول.
- د ځارویو په مدیریت کې غوره والي راوستل، د (phytosanitary) د شمولیت معیار او د نړیوال سوداګریز سازمان له خوا منظورشویو تعرفو ته رسیدل ترڅو زموږ له وړو سوداګرو سره په هیواد کې د شته توکو د معادلو وارداتي سیالانو د سیالۍ مخه ونیسي.

- د بڼوالی ظرفیت له ۱۸۰،۰۰۰ څخه ۲۳۰،۰۰۰ هکتارو ته لوړول، د ارزښتونو لوړولو په زنځیر(-value chains) کې له پانګونې څخه ملاتړ کول، د صادراتو د تصدیق سند د طرزالعملونو رامنځته کول، او د ښځو له خوا پرمخ وړونکو کرهنیزو سوداګریو څخه د ملاتړ زیاتول.
- د غلو د استراتیژیکي زیرمو بیا ودانول او د کروندګرو د ملاتړ لپاره د غلو د زیرمو د بورډ رامنځته کول.
- د ځنګلونو کرهنه او په ۶۰،۰۰۰ هکتارو کښې د ځنګلونو بیا ابنبودنه ، چې له چاپیریال ساتنې او د کروندګرو لپاره د عوایدو له رامنځته کولو څخه ملاتړ کوي.
- د کرهنې وزارت د بیا جوړښت، تر څو یو غیر متمرکزه او کروندګرو ته ځانګړې شوې پاملرنې اداره رامنځته شي چې خصوصي پانګونه تنظیم کړي او وې هڅوي.

## ۷. دښاري پراختیا پروګرام

په ډیرو هیوادونو کې، ښارونه د جغرافیایي او نفوس د ګټو له کبله د ودې د رامنځته کېدو خوځنده مرکزونه جوړوي . افغان ښارونه لوی تاریخونه لري، لیکن اوس مهال باید چې د ودې په محرکېنو باندې بدل شي. زموږ ښارونه د اوسیدو پر مرکزونو باندې اوښتي، چې د نوو اوسیدونکو، بې ځایه شویو خلکو، او راستنیدونکو مهاجرو لوېې شمیرې د جذب لپاره د اقتصادي بنسټونو له کمښت سره مخ دي. د ښاروالیو لپاره د مستقیمو ټاکنو سره چې د ۲۰۱۹ زیږدیز کال لپاره پلان شوي، زموږ ښارونه به د ښاروالۍ او ښاري چارو د مدیریت لپاره لوړو ظرفیتونو ته اړتیا ولري.

### خوځنده او د هستوګنې وړ ښارونه

- یاد سکټور لپاره زموږ موخې په لاندې ډول دي:
- د خوځنده، خوندي، د هستوګنې وړ ښاري مرکزونو د یوې شبکې رامنځته کول
- د اقتصادي ودې په مرکزونو، کلتوري مرکزونو، او د ټولنیز یوځایوالي په مرکزونو باندې د ښاري شبکو بدلول
- د ښاري پلان جوړونې غیر مرکزي کول او د مشارکتي ښاري حکومتولۍ میکانیزمونو جوړول.
- د ملي لومړیتوب ښاري پروګرام به:
- حقوقي او مقرراتي جوړښت کې غوره والی راولي، د واک لیږد به پلي کړي، او په ښارونو کې به د قانون حاکمیت ټینګ کړي.
- د ښاري زیربیناوو، په ځانګړي ډول ترانسپورت او د اوبو ایستلو سیستم به جوړ کړي

- ښاري پراختیایي پلانونو کې کلتوري میراث شامل کړي
- د ښاري ګاونډیتوب پرمختګ، د منطقه بندی یا زوننګ د اصولو رامنځته کول او پلي کول، او د مناسبو بیو کورونو ودانولو هڅول.
- د ځمکې د ملکیت د حقوقو خوندیتوب او تصدیقول، بیوزلو ته د ښاري خدمتونو په رسولو کښې د ښه والی، او په کاري فرصتونو کې د زیاتوالی راوستل.
- لویو اقتصادونو ته وده ورکول، د ښاري اقتصادي زونونو جوړول، ښارونو ته نیږدي سیمې په ښاري پراختیایي پلان کې ځای پر ځای کول.

## ۸. د انرژۍ پروګرام

زموږ د پرمختګ تګلاره د تولید کوونکو د ورتیا د لوړیدو سره تړلې ده ترڅو ښاري او نړیوالو بازارنو ته لاسرسی ومومي. د ترانسپورت د دهلیزونو پراختیا د شخړو له کبله اغیزمنه شوې ده. خو، کمزوري ډیزاینونه (ډیر وخت د ګوګل له نقشې څخه اخیستل شوي) او د ترونونو کمزوری مدیریت دواړه په مساوي توګه ننګونکي پاتې شوي دي، چې د ټیټ کېفیت ودانیزو کارونو لپاره د لوړ لګښت سبب شوي. په راتلونکي کې له یادو ستونزو څخه د خلاصون په موخه، موږ به د سړکونو د جوړولو لپاره د تصدیق لرونکو شرکتونو د مخکې له مخکې امتیاز ورکوني پروسه پیل کړو. د ټرانسپورت د چارواکو د اغیزمنتیا د لوړولو لپار د داسې سیستمونو پر رامنځته کولو کار دوام لري چې دوی ته په هیواد کې د ترانسپورت زیاتیدونکو اړتیاوو ته په ځواب ویلو کې د همغږۍ اجازه ورکوي. همدارنګه دغه هڅو کښې د سړکونو څانګې، د سړکونو د مالي صندوق، او د ټرانسپورت د انستیتوت جوړول شامل دي.

افغانستان د بریښنا د تولید او لیږد لپاره یو اوږدمهاله پروګرام پر لاره اچولی دی. د کاسا- ۱۰۰۰ او د ترکمنستان ۵۰۰ کېلو ولټه د بریښنا مزی کولای شي تر ۴۰۰۰ میګا واټه بریښنا ولیږدوي. د ټاپي د طبیعي ګازو نللیکه له ترکمنستان څخه سهیلي آسیا ته د ګازو د لیږد په برخه کې پرمختګ رامنځته کوي. د سلما د څو موخیزه بند فعالول یوه لویه لاسته راوړنه ده او کولای شي د ترانسمیشن له پلورلو څخه د عوایدو د ترلاسه کېدو سبب وګرځي او په افغانستان کې د سوداګریزې او خصوصي بریښنا د شتون سبب شي.

د یوه ماسټرپلان په پلي کولو سره چې له کورنیو سرچینو څخه د پنځو کلونو په ترځ کې د۲،۳۰۰میګا واټه بریښنا په تولید سره او د څلورو لویو آبی بریښنا پروژو او ۶۰۰ میګا واټه له لمر، باد، او طبیعي ګاز له لارې چې دواړو پروژو ته د عامه او خصوصي ګډون له لارې پراختیا ورکړل شوې، د کورني تولید کچه مخ په زیاتیدو ده. د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په پای ته رسیدو سره به افغانستان له نویو کورنیو سرچینو څخه تر هغه ډیره بریښنا تولید کړي چې د تیرو ۴۰ کلونو په ترځ کې د هیواد دننه تولیده شوې ده.لومړیتوب به په ملي شبکه کې پانګونې ته دوام ورکول وي، کوم چې د سوداګریز یا صنعتي پرمختګ لپاره اساسي وړاندینی شرط دی، په داسې حال کې چې د استوګنې په انزوا شوو سیمو کې، د بیا تولید وړ بریښنا په برخه کې زیاتیدونکې پانګونه په لومړیتوب کښې کرار لري.

## د زیربیناوو او انرژۍ د پراختیا لپاره د ملي لومړیتوب پروګرام

- د بریښنا او انرژۍ سکټورونو لپاره زموږ موخې:
- د ښاري او کلیوالي سوداګرۍ د پراختیا لپاره د ټرانسپورت د لګښت کمول

- د ۵۰۰ کیلو ولټه ملي شبکې بشپړول او د ۱۵ کلونو په ترڅ کې د انرژۍ له اړخه پر ځان بسیا کېدل.
- د مرکزي او سهیلی آسیا ترمنځ د انرژۍ له لیږد څخه د عوایدو ترلاسه کول.
- یادو موخو ته د رسیدو لپاره افغانستان به:
- د خصوصي سکټور زیربیناوو پراختیا وهڅوي.
- خصوصي سکټور ته د ستراتیژیک لحاظه مهمو زیربیناوو پراختیا د چټکولو په موخه د حکومت له خوا دولتي ځمکه په اختیار کې ورکړي.
- د طرحي ترتیب او نوښت لرونکي تدارکاتو پروسه رامنځته کړي ترڅو د داوطلبۍ او بشپړیدو په وخت کې کمښت راولي.
- د زیربیناوو د انجینرانو او پروژو د مدیرانو د کادرونو روزل.
- له طبیعي ګازه، نوي کېدونکي انرژۍ، او آبي بریښنا څخه په ګټې پورته کولو د کورني تولید کچه ۲،۳۰۰میګا واټو ته لوړول.
- د کورنۍ انرژۍ د لیږد او ټرانسمیشن پراختیا، په ځانګړي ډول دنوي کېدو وړ انرژۍ له لارې.
- په دې سکتور کې د نرخونو د ټاکلو او سبسایډي د جوړښت سمون .

## ۹. دکانونو او طبیعي سرچینودپراختیا ملي پروګرام:

د استخراجي صنایعو لکه کانونه او هایدرو کاربن پرمختګ به په زیاتیدونکي توګه د اقتصادي ودې د محرک په توګه مهم رول ولوبوي. د رښې دواطلبۍ او اغیزمنې خارنې له لارې د هغوی دوامداره پراختیا موږ ته د ځانګړې اهمیت وړ ده. وروستي راپورونه په یاد سکټور کې د دولت د قوي شتون اړتیا په ګوته کوي ترڅو د قاچاق او غیرقانوني پراختیا نورو ډولونو مخه ونیسي. له دې کبله، زموږ استراتیژیک پلان د (EITI) له بشپړ مطابقت سره د استخراجي پرمختګ د یوالي غوښتنه کوي او د دې ډاډ ورکوي چې ټول فعالیتونه به د افغانستان تاریخي میراثونو په ساحو کې او یا دهغه ګرد چاپیر د ساتنې اړوند د نړۍ غوره تګلارې وخاري. لکه څرنګه چې حکومتولي پرمختګ کوي، موږ به د کان کېندنې برخه د نړیوالو پانګوالو پر مخ پرانیزو کوم چې د پانګې او مدیریت مهارتونه وړاندې کوي ترڅو خپل بشپړ قابلیت ته د رسیدو په برخه کې له یاد سکټور سره مرسته وکړي.

د کان کېندنې سکټور د عوایدو د تولید ډیر لوی قابلیت لري. خو، یو کمزورې مقرراتي چاپیریال، د پانګونې د منظورۍ د ورو کېدو سبب ګرځي، او اداري فساد خو وار له مخکې په یاد سکټور کې د پرمختګ مخه ډب کړې ده او د منځنیو او وړو کانونو د رااېستلو له لارې یې د پام وړ عوایدو د ترلاسه کولو مخنیوی کړی دی. موږ به د خصوصي سکټور د پانګونو هڅونې په موخه د قانون جوړونې او مقرراتي جوړښت په برخه کې پرمختګ ته چټکتیا ورکړو. په اړینو زیربیناوو کې د پام وړ پانګونه، په ځانګړي ډول د ریل ګاډو د پټلیو په برخه کې چې د کان کېندنې لویې پروژې د بندرونو له آسانتیاوو سره تړي، او د انرژۍ پرمختللې ملي شبکو ته اړتیا ده ترڅو د کانونو له ظرفیت څخه پوره ګټه پورته شي.

روڼتیا او حساب ورکونه به د یاد سکټور د دوامداره پرمختګ لپاره لومړیتوبونه وي. موږ اټکل کولای شو چې غیري قانوني کان کېندنه په کال کې د ۳۰۰ ملیونه امریکایي ډالرو زیان، د شخړو د زیاتیدو، او د جرمونو د رامنځته کېدو سبب ګرځي. موږ به له (EITI) یا د استخراجي صنایعو د روڼتیا انستیتوت له غوښتنوسره برابروالی، د ګټور مالکیت د ښکاره کېدو لپاره نویو غوښتنو رامنځته کېدل ډاډمن کړو او همدارنګه به له قانوني استخراج څخه د عوایدو تر لاسه

کول یقیني کړو. د هایدورکاربن نقشه بندي او اکتشاف هم پیل شوی، خو د پام وړ سوداګریز پرمختګ به د تیلو او ګازو د نړیوالو قیمتونو لوړیدو ته انتظار باسي.

## د غوره اقتصاد لپاره د استخراجي سکټور پیاوړي کول

- د کانونو او مینرالونو سکټور لپاره زموږ موخې په لاندې ډول دي:
- د منرالونو له استخراج څخه تر وروستي بریده د عوایدو لوړول،
- د کانونو د عوایدو ثبات او د وړاندوینې د وړتیا لوړول،
- د تیلو او ګازو د اکتشاف پراخول،
- او غیر قانوني کان کېندنو ته رسیدګي.
- یاد سکټور لپاره زموږ لومړیتوبونه په لاندې ډول دي:
- د تړونونو اصلاحات او د سیمه ایزې حکومتولۍ مسلکي کول
- د کانونو پر سیمو باندې د حکومت د بشپړ کنټرول رامنځته کول
- له (EITI) له غوښتنو سره د کانونو د قانون مطابقت
- د لویو کانونو د را ایستلو لپاره د نړیوالو ګډونوالو را بلل
- په ترکمنستان او ایران کې له سیمه ایزو شبکو سره د ریل له لارې د بار او لیږد د نویو لارو جوړول.

## ۱۰. د بشري سرچینود پراختیا پروګرام

افغانستان کښې مهارتونه د بازار له غوښتنو سره په بشپړه توګه سمون نلري. دغه حالت به لا نور هم هغه وخت خراب شي چې د ودې تګلارې پلي کول دوام ومومي. په راتلونکي کې د بازار د غوښتنو د اټکل لپاره، به موږ په مسلکي زده کړو، انجینري، مدیریتي مهارتونو، د خدمتونو په صنعت، او په هغو اصلاحاتو چې افغان کاري ځواک لا نورهم انعطاف منونکي او ځواب ویونکي جوړوي، پانګونه وکړو. د مهاجرو او کورني بې ځایه شویو بیرته راستنیدل کولای شي خپله مثبته ونډه ولري، راوستل شوي مقرراتي اصلاحات به دوی ته د منځنیو او حرفوي زده کړو د ترسره کولو اجازه ورکړي. په جلا وطن کې لوی شوي افغان ځوان نسل لپاره دا اړینه ده ترڅو زموږ د کار په بازارونو کې مدغم شي. موږ به د پایلو پر بنسټ د ښوونې د بیلګې په کارولو او د نصاب په بیاجوړولو، ارزونې، او په زده کړو کې د کړونو په راپور ورکولو سره د زده کړو کېفیت ډاډمن او د لوړو زده کړو موسسو د کېفیت تضمین لوړ کړو.

- د اقتصادي ودې د رامنځته کولو په موخه بشري سرچینو ته پراختیا ورکول
- په یاد سکټور کې پانګونه به:
- د کاري ځواک د صادرولو په ګډون به موږ راتلونکي کښې د بازار د غوښتنو لپاره چمتو کړي
- د خصوصي سکټور له غوښتنو سره به د تعلیم کېفیت په غوره توګه برابر کړي
- د اوسنیو مهارتونو بنسټ به غښتلي کړي
- د وقایوي او معالجوي روغتیا په برخه کې پانګونه به د کاري ځواک کېفیت لوړ کړي
- یادو موخو ته د رسیدو لپاره به موږ:
- د مسلکي روزنې له آلماني بیلګې څخه د ګټې په اخیستو سره به مهارتونو او تخنیکي زده کړو ته پراختیا ورکړو.

- د خصوصي مهارتونو د اکاډیمیو جوړول به وهڅوو؛
- د روزنې په پروګرامونو او د کار په بازارونو کښې د راستنیدونکو مهاجرو او په هیواد کې دننه بې ځایه شویو وګړو د جذب لپار آسانتیاوې په ګوته کړو
- دمعلولینو لپاره د عوایدو د ترلاسه کولو په برخه کې د ټولنې پر بنسټ رامنځته شویو کړنلارو څخه ملاتړ وکړو

## ۱۱. د ښځود اقتصادي پیاوړتیا پروګرام

موږ په ملي پراختیا کې د افغان ښځو بشپړ سیاسي، ټولنیز، او اقتصادي ګډون باوري کولو ته پوره ژمن یو. د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره د حکومت بودجه د ملګرو ملتونو د ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک او ملي لومړیتوب پروګرام د پلي کولو په لګښتونو کې ځای پر ځای کړې ده.

د راتلونکو پنځلسو کلونو په ترڅ کې د بیوزلی د کمولو په برخه کې زموږ د ژمنو په پلي کولو سره به د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام کې تر ډیره کچې د ۲۵۰ ملیونه امریکایي ډالرو پانګونه وکړو. موږ به د اصلاحاتو یوه کړنلاره پلي کړو تر څو پورې چې د ښځو خوځښت زیات کړي، د جندر یا جنسیت د احصاییو په کېفیت کې ښه والی رواني، او هغه قوانین چې پورونو او بازارونو ته د ښځو د لاسرسي مخه نیسي کم یا لرې کړي.

## افغانستان د جندر یا جنسیت تګلاره :

زموږ اساسي قانون ښځې ته د هیواد د یوې اوسیدونکي په څیر د مساوي حقوقو ضمانت کوي. لیکن موږ باید د بیوزلی  له دوران څخه د دوی د وتو لپاره د هغوی ټولنیز اقتصادي ګډون او له مارکېټونو سره د دوی د مشغولتیا زیاتول باوري کړو.

زموږ د جندر تګلاره پر پنځو ستنو ولاړه ده، چې هره یوه یې د حکومت په عملي پروګرام کې ځای لري:

- د بشري حقونو، امنیت، او د افغان ښځو لپاره له کورني تاوتریخوالي څخه د خلاصون په برخه کې زموږ د نړیوالو ژمنو پلي کول،
- د لوړو زده کړو په شمول، تعلیم او روغتیایي خدمتونو ته د پوره لاسرسي  ډاډمنول،
- د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا د ملي لومړیتوب پروګرام پیلول،
- په بشپړ ډول د قانون پلي کولو له لارې د ښځو لپاره د اساسي قانون مطابق حقوقو خوندي ساتل،
- په حکومت او سوداګری کې د ښځو د ونډې زیاتول.

# اتم څپرکی

## د افغانستان دوامداره پرمختیایی موخی A-SDGs لنډه پېژندنه

بنسټيزې پراختيايي موخې (SDGs) د ملګرو ملتونو يوه ۱۵ کلنه اجنډا ده چې (۲۰۱۵-۲۰۳۰) کلونو لپاره يې د نړۍ د ټولو هېوادونو لپاره يې د اقتصادي، ټولنيزو برخو، چاپېريال ساتنې او امنيتي ځانګو لپاره په نظر کې نيولې ده او افغانستان چې د ملګرو ملتونو د نړيوالې ټولنې غړی، دغو موخو ته ژمن او د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر د هغه په عملي کولو مکلف دی. بنسټېزې پراختيايي موخې (SDGs) د اهدافو، ټارګېټونو او شاخصونو له زياتوالي سره په حقيقت کې د زريزې د موخو (MDGs) امتداد دی. د زريزې پراختيايي موخې (MDGs) د بنسټيزو پراختيايي موخو په څېر د (۲۰۰۰-۲۰۱۵) کلونو لپاره د مخ پر ودې هېوادونو لپاره د ملګرو ملتونو يوه ۱۵ کلنه اجنډا وه چې افغانستان د لانجو او ستونزو له کبله و نه توانېد چې په ۲۰۰۰ زېږديز کال کې هغه ته ژمن پاتې شي او د زريزې پراختيايي موخې پکې تطبيق شي. خو په ۲۰۰۵ زېږديز کال کې توانبدلی چې د نړۍ د نورو هېوادوو په د زريزې پراختيايي موخې تطبيق کړي. د زريزې پراختيايي موخې (MDGs) ۹ هدفونه، ۱۸ ټارګېټ، او ۴۸ پراختيايي شاخصونه درلودل.

د ۲۰۱۵ کال کې په وروستيو کې د زريزې د پراختيايي موخو د وخت په ختمېدو سره د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر په مياشت کې د نيويارک د ښار د ملګرو ملتونو په مقر کې د ۱۵ کلونو لپاره د بنسټيزو پراختيايي موخو (SDGs) ستراتيجي تصويب شوه چې له نړۍ څخه د ملګرو ملتونو ټول غړي هېوادونه (له جاپان او انګلستان) پرته د هغه په عملي کولو ژمن شول.

بنسټيزې پراختيايي موخې (SDGs)، د بشري ټولنو د اقتصادي او ټولنيزې پراختيا په مقصد طرح او ډيزاين شول چې ۱۷ هدفونه، ۱۶۹ ټارګېټونه، او ۲۱۷ پراختيايي شاخصونه لري.

### د SDGs: د بنسټيز انکشاف د موخو لرليد

- د بنسټيزې پرمختيا د موخو تمرکز:
- د بشريت له نړۍ څخه د شديد فقر محو کول،
- د بې عدالتۍ او نابرابريو په وړاندې دوام لرونکې مبارزه،
- د بنسټيزې سولې او ثبات تامين،
- د ژوند له چاپېريال څخه ساتنه،
- د نړۍ د ملتونو تر منځ د اقتصادي او ټولنيزو همکاريو ځواکمن کول،



## په سمبولیک ډول د اولسو موخو




لنډيز:

## د افغانستان لپاره بنسټېزي پراختیايي موخي A-SDGs:

د ملګرو ملتونو د غړي هېواد په توګه د افغانستان اسلامي جمهوریت د بنسټیزو پراختیايي موخو تطبیق او عملي کولو ته ژمن دی او د وزیرانو د عالي شورای د ١٦ لمبر مصوبې د ۴ فقرې په اساس چې د ۱۴۹۴ کال د تلې د میاشتې په ۲۰مه نیټه تصویب شوې، د اقتصاد وزارت ته دنده و سپارل شوه چې څو د بنسټیزو پراختیايي موخو د کار له بهیر، همغږۍ او اغیزناک تطبیق څخه څارنه او ارزونه وکړي. همدارنګه یاد وزارت مکلف دی چې د همدې موخو د تطبیق د څرنګوالي په هکله منظم ګزارشونه ترتیب، د وزیرانو د شورا او دیپلوماتیکو مراجعو له لارې یې د ملګرو ملتونو عمومي مجمع ته وړاندې کړي. دافغانستان دپاره بنسټیزو پراختیايي موخې په مجموعی ډول ١٦ موخې، ١١٢ تارګیته او ١٧٨ شاخصونه ټاکل شوی دی .

## د افغانستان لپاره د بنسټېزو پراختیايي موخو اهمیت A-SDGs:همیت اهدافافغانستان

- افغانستان د یو خپلواک، باثباته او پراختیا لپاره د بارومند هېواد په توګه د ملګرو ملتونو د غړو هېوادونو په څنګ کې د بنسټیزو پراختیايي موخو پلي کولو ته ژمن دی.
- بنسټیزي پراختیايي موخي په بشپړ دقت سره طرح او ترتیب شوي نو له همدې کبله د افغانستان ټول لومړیتوبونه په هغو کې انعکاس موندلی دی.
- یادي موخي کولای شي چې په هېواد کې د اقتصادي او ټولنیزو لومړیتوبونو د پراختیا لپاره د یو ستراتیژیک بنسټ او سرچینې په توګه کار وکړي.

- د بنسټیزو پراختیايي موخو په تطبیق سره د افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې مالي او تخنیکي ملاتړ ډېرېږي.
- د بنسټیزو پراختیايي موخو په تطبیق سره افغانستان د همېشنۍ سولې او ثبات تر پلوشو لاندې راځي.
- د بنسټیزو پراختیايي موخو علمي کول په هېواد کې د پرمختګ بېړنۍ وده او پراختیا رامنځته کوي.

## د افغانستان لپاره د بنسټیزو پراختیايي موخو د تطبیق مرحلې A-SDGs:



د ملي کولو مرحله
مارچ ۲۰۱۶ تر جنوری ۲۰۱۸

د انطباق او ادغام مرحله
جنوری ۲۰۱۷ تر اپریل ۲۰۱۸

د تطبیق مرحله
اپریل ۲۰۱۸ تر سپتمبر ۲۰۳۰

## په افغانستان کې د بنسټيزو پراختيايي موخو ټارګېټونه او شاخصونه :

| ټارګیټ | شاخص | د رهبری واحد |
|---|---|---|
| **لومړۍ موخه: په ټولو ځايونو کې له ټولو اشکالو سره يو ځای د فقر محوه کول** | | |
| ۱,۲ تر ۲۰۳۰،کال پورې لږ تر لږه د فقيرو نارينه، ښځينه او ماشومانو د نسبت کموالی (د فقر په ټولو اړخونو کې) چې د فقر د ملي تعريف سره سم د عمر په ټولو ډلو پورې اړه و لري. | ۱,۲,۱ د فقر د ملي تعريف له مخې د فقر د کرښې د لاندې د نفوس نسبت.<br>۱. د دواړو جنسيتونو مجموع<br>الف. نارينه<br>ب. ښځينه<br>ج. ښاري<br>د. کلیوال<br>ه. کوچې | د اقتصاد وزارت |
| ۱,۳ تر ۲۰۳۰ کال پورې، په ملي کچه د ټولنيز خونديتوب د سيستم تطبيق، په ټولو طبقو کې د هغه اجرا او د پاملرنې وړ شمېر فقير او زيان منونکي افراد د هغه تر پوښښ لاندې راوستل. | ۱,۳,۱ د هغه نفوس سلنه چې ټولنيز خونديتوب د سيستم تر پوښښ لاندې راغلي وي په تفکيک د:<br>۱. معلوليت لرونکي اشخاص<br>۲. د شهيدانو کورنۍ<br>۳. متقاعدين<br>٤. هغه زيان منونکي کورنۍ چې له ۱۰ کلنۍ څخه کوچني ماشومان لري. | د شهيدانو، معلولينو، کار او ټولنيزو چارو وزارت |
| ۱,۵ تر ۲۰۳۰ کال پورې، په فقيرانو او زيان منونکو کسانوکې د ځواکمنې او طاقت راوړلو د وړتيا (resilience) ايجاد د اغيز منلو کموالی (exposure) او د شديدو اقليمي، اقتصادي، ټولنيزو، د ژوند د چاپېريال او نورو پېښو د رامنځته کېدو په صورت کې د هغوی د زيان منلو د اندازې کموالی. | ۱,۵,۱ د هغو کسانوسلنه چې د اقليمي پېښو په وړاندې له خطر سره مخ وي. | د پېښو لپاره د چمتوالي ملي اداره |
| | ۱,۵,۲. د ناخالص داخلي توليد په اړوند د غير مترقبه اقتصادي | د پېښو لپاره د چمتوالي ملي |

| ټارګیټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| | پېښو د مستقیمو اغېزو میزان. | اداره |
| ۱.الف په ټولو اړخونو کې د فقر د محوه کولو لپاره د پروګرامونو او پالیسیو د تطبیق په موخه، د مختلفو پراختیایي همکاریو، سرچینو او مراجعو همغږی کول او د هغه لپاره د کافي او ډاډمنو وسایلو پیداکول او په کار اچول. | ۱.الف.۱ د فقر د منځه وړلو د پروګرامونو لپاره د دولت د اختصاص شوو سرچینو نسبت. | د مالیې وزارت |
| | ۱.الف.۲ ضروري په ضروري خدمتونو کې د دولت د لګښت نسبت (تعلیم او تربیه، روغتیا او ټولنیز مصوونیت) . | د مالیې وزارت |
| **دویمه موخه: د لوږې محو کول؛ د غذایي امنیت د تغذیې د ښه والي د زمینې لاسته راوړل او د بنسټیزې کرنې ترویج** | | |
| ۲،۱ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د لوږې د منځه وړل، او د دې ډاډ حاصلول چې ټول وګړي او په ځانګړې توګه فقیران او زیان منونکي ماشومان غذایي او مغذي مواد ته د کال په جریان کې لاسرسی لري. | ۲،۱،۱. د غذایي خوندیتوب له مخې د غیر مصوونو کسانوسلنه | د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت |
| ۲،۲ – تر ۲۰۳۰ کال پورې د سؤ تغذیې د ټولو ډولونو کموالی، او د پنځو کالونو څخه په عمر کې د کمو ماشومانو په وړاندې د سؤ تغذیې، ډنګروالي او ناوړه ودې په تړاو لویو نړیوالې نړیوالې موخې لاسته راوړل. | ۲،۲،۱ – له پنځو کلونو څخه په عمر کې د کمو ماشومانو په وړاندې د بدې سؤ تغذیې د لګېدلو (د قد د لنډوالي) نسبت چې تر ( منفی ۲ ) او د ماشومانو د ودې د منځنې معیار څخه انحراف (WHO) | د عامې روغتیا وزارت |
| | ۲،۲،۲ –له پنځو څخه د کم عمر ماشومانو په وړاندې د سؤ تغذیې انتشار ( په سن باندې د قد نسبت) چې له ( منفی ۲ ) څخه کم وي او د ماشومانو د ودې د منځنې معیار څخه انحراف(WHO) – د لړ وزن په تفکیک سره | د عامې روغتیا وزارت |
| ۲،۳ تر ۲۰۳۰ کال پورې د کوچنیو کرنیزو او تولیدي تولید کوونکو د حاصلاتو د وړتیاوو لوړول، په ځانګړې توګه له مېرمنو، بومي وګړو، کورنیو بزګرانو، شپانو او کب نیوونکو سره د مساواتو، ځمکې او ټولو تولیدي سرچینو د لاسرسي، مهارتونو، مالي خدماتو، مارکېټونو او | ۲،۳،۱ د غنمو او وریجو په حاصلاتو کې د بزګر د طبقې د حاصل اوسط (میتریک ټن/هکتار)<br>الف. اوبیزه غنم | د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت |

| ټارګېټ | شاخص | د رهبری واحد |
| --- | --- | --- |
| د مزرعو څخه بهر د ارزښت لرونکي زیاتولي او چارو د ډېروالي له لارې. | ب. للمي غنم<br>ج. وریجې | |
| | ۲,۳,۲ د غذايي موادو د کوچنیو تولید کوونکو د درآمد منځنی حد | د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت |
| ۲,٤ تر ۲۰۳۰ پورې  د داسې سیستمونو، بنسټیزو غذايي موادو او کرنیزو تګلارو د تطبیق څخه څخه ډاډ حاصلول چې (Agriculture Practices) بنسټیز (Resilient) نومېږي او د کرنیزو تولیداتو زیاتوالی رامنځته کوي او د ایکو سیستم څخه ساتنه کوي. همدارنګه د اقلیم له بدلون، نا مناسبې هوا او اوبو، وچکالي، سېلابونو او نورو مصیبتونو سره د سمون د ظرفیت جوړول او لوړول چې په تدریج سره د ځمکې کیفیت لوړ کړي. | ۲,٤,۱ د هغو کرنیو ساحو نسبت چې تر بنسټیز او تولید کوونکي زراعت لاندې قرار لري | د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت |
| ۲,۵ تر ۲۰۲۵ کال پورې په ملي کچه د نباتاتو د زېرمتونونو د ایجاد او ښه مدیریت له لارې د تخمونو  دانو، کرنیزو نباتاتو، اهلي او کورنیو څارویو او وحشي حیواناتو د جنتیکي تنوع ساتنه. له دې څخه اطمینان حاصلول چې په دې برخه کې عادلانه تقسیم شوی او د جنتیکي سرچینو څخه د ګټې اخیستلو د ګټو حاصل په ټولنه کې په مساوي توګه تقسیم شوی او د هغو سنتي رویشونو څخه ګټه اخیستل شوې چې په نړیواله کچه پرې توافق شوی دی. | ۲,۵,۱: د هغو مزروعي نباتاتو او راجستر شوو څارویو شمېر چې د حفاظت لاندې قرار لري په تفکیک د:<br>الف. مېوه جاتو<br>ب. نباتاتو<br>ج. څارویو | د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت |
| ۲.الف د کرنیزو تولیداتو د زیاتوالي په موخه په ټولو کلیوالي زېربناوو کې پانګونه، کرنیزې څېړنې، پراختیایي خدمتونه، د ټکنالوجي انکشاف او د نړیوالو پراختیایي همکاریو له لارې د جنتیکي نباتاتو د زېرمو جوړول. | ۲.الف.۱ د عامه لګښتونو کرنیز محوره شاخص | د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت |
| ۲.ج د غذايي مارکېټونو او د هغه د نورو برخو د ښه فعالیت په منظور د تدبیرونو له نیولو څخه ډاډ حاصلول او د غذايي قیمتونو د شدیدو نوساناتو څخه د مخنیوي په موخه بازارونو ته پر وخت د غذايي موادو او سهولتونو رسول او لاسرسی. | ۲.ج.۱ د هغو کرنیزو محصولاتو، مالداری او لومړنیو موادو شمېر چې د هغه بیې په اونیز او میاشتني ډول خپرېږي. | د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت |

| ټارګیټ | شاخص | د رهبرۍ واحد |
|---|---|---|
| دریمه موخه: د ټولو لپاره د روغ ژوند د اطمینان حاصلول او د ټولو لپاره په ټولو کلونو کې د عامه هوساینې ښه والی | | |
| ۳,۱ تر ۲۰۳۰ کال پورې، د زېږون پر مهال د مور او ماشوم د مړینې په شمېر کې داسې کموالی راوستل چې په هرو ۱۰۰ ژوندیو ولادونو کې له ۷۰ څخه کمو کسانو ته راټیټ شي. | ۳,۱,۱ د زېږون پر مهال په هرو ۱۰۰ زره ژوندیو ولادتونو کې د مور او ماشوم د مړینې نسبت په تفکیک د:<br>۱. ټول<br>الف. ښاري<br>ب. کلیوالي<br>۲. د عمر په حساب دله | د عامې روغتیا وزارت |
| | ۳,۱,۲ د هغو ولادتونو تناسب چې د زېږون د ماهرانو په وسیله تر شوی (له ټولو ولادتونو څخه) | د عامې روغتیا وزارت |
| ۳,۲ تر ۲۰۳۰، کال پورې.. له پنځو کلونو څخه د کم عمر ماشومانو د داسې مړینې مخنیوی(Preventable) چې د مخنیوي وړ وي او دا کار په دې موخه تر سره کېږي چې په هرو ۱۰۰ ژوندیو ماشومانو کې دغه شمېر یوازې ۱۵ تنو ته را ټیټ شي او په هغو ژوندو ماشومانو کې دغه شمېر یوازې ۲۵ کسانو ته راټیټ شي چې تر ۵ کلونو څخه کم عمر لري. | ۳,۲,۱ له پنځو کلونو کې د کم عمر ماشومانو د مړینې میزان (په هرو زرو ژوندیو ولادتونو کې) | د عامې روغتیا وزارت |
| | ۳,۲,۲ د نوو زېږېدلو ماشومانو د مړینې میزان (په هرو زرو ژوندیو ولادتونو کې). | د عامې روغتیا وزارت |
| ۳,۳ تر ۲۰۳۰ کال پورې هغو ناروغیو ته د پای ټکی ورکول چې په ټولنه کې د خپرېدو وړ وي (Epidemics)؛ له دې جملې کولای شو د ایډز، توبرکلوز، ملاریا، او (neglected) ګرمسیري نومونه یاد کړو او له هیپاتیتز، او هغو ناروغیو سره مقابله وشي چې د غیر صحي اوبو د څښلو له امله وګړي پرې اخته کېږي. | ۳,۳,۱ د HIV/AIDS نوو پېښو شمېر چې د یو تېر شوي کال په جریان کې ۱۰۰۰ کسان ملوث شوي دي.<br>۱. ټول<br>الف. نارینه<br>ب. ښځینه<br>ج. کلیدي نفوس (د خطرناک رفتار درلودونکي معتادان، زندانیان، نارینه او ښځینه ) | د عامې روغتیا وزارت |
| | ۳,۳,۲ په یو تېر شوي کال کې په هرو سل زرو نفوسو کې د | د عامې روغتیا وزارت |

| ټارګيټ | شاخص | د رهبری واحد |
|---|---|---|
| | توبرکلوز پيښې | |
| | ۳،۳،۳ په تېر یو کال کې په هرو زرو کسانو کې د ملاريا د ناروغی پيښې | د عامې روغتيا وزارت |
| | ۳،۳،٤ په تېر یو کال کې په هرو سل زره کسانو کې د هیپاتیت B باندې د اخته شوو کسانو مېزان په تفکيک د:<br>الف. په ملي کچه<br>ب. د HB+ د پېښو سلنه د VCT په مرکزونو کې | د عامې روغتيا وزارت |
